

# ستا غمونو سودايي کړم

ليکوال: سردار يوسفزے

پېوند واخله چې تيار شم د پخوا پشان الوت ته
يه زما ماته وزره ستـــا غمونو ســـودايي کړم

دکتاب ټول حقونه زما د بچو د وسیم سردار او
سوېرا سردار په حق کښې محفوظ دی

دکتاب نوم : ستا غمونو سودائی کړم

لیکوال : سردار یوسفزے (0300-2403242)

تعلیم : اېم اې ادبیات

ځائے : کلے تولاندی (صوابی)، خیبرپښتو نخوا

کمپوزنګ : سلیم ناشاد (0346-9327068)

پروف ریډنګ: مهر اندېش

دچاپ کال : دسمبر 2010ء

شمېره : 1000

بیعه : 150 روپی

درکونه :۔یونیورستی بُک اېجنسی خیبربازارپېښور

:۔ پښتو اکېډمی بُک ستال پېښورپوهنتون

خورونکی :۔ پښتوادبی سوسائټی (رجسټرډ) اسلام اباد

:۔ تولاندی ادبی ټولنه تولاندی (صوابی)

:۔ سُدم پښتوادبی جرګه رستم

# ترون

د مور په نوم چې ماته يې خوږه ژبه پښتو ښودلې

ده

د پلار په نوم چې ما له يې قلم په لاس کښې

راکړے دے

د هر هغه چا په نوم د چاغمونو چې سودائی

کړے يم

# سوغات

خپل قدر من استاذ، ښاغلی یوسف خان صیب (بارو کلے شهبازګړه) ته، چې ماترې ډېر څۀ زده کړی دی۔

او

ګران ملګری حبیب الله ته چې په رستم کښې ئې د جهالت په ضد دسُدم چلډرن اکېډمی اینډ سائنس کالج په شکل کښې یو تعلیمی سنګر جوړ کړے دے چې تر اوسه ئې په زرګونو ماشومانو له د توپک په ځائے قلم په ګوتو کښې ورکړے دے۔

# په قام مئين شاعر

دا موجوده دور د افتراق ، انتشار، خود غرضۍ او ځان ځانۍ دور دے سکون نشته هر طرف ته بې اطمينانى ده وجه ئې دا ده چې د بنيادم نه خپله لاره خطاشوې ده د خپلې لارې په ځائے په پردۍ لاره روان دے مزل كوى خو منزل ته نۀ رسى ځكه چې مخ ئې خپل منزل او مرام ته نه دے۔ هركس خپلو غمونو سودائى كړے دے سهوا د سردار يوسفزى نه چې د قام د بچو غمونو سودائى كړے دے۔ په دې نعره كښې څۀ سياست نشته، د څۀ عوض طمعه نۀ لرى او نۀ د دې نعرې په وجه د قام د غرو زړونه نرى كوى چې ووټونه وركړى۔ كۀ د قام د بچو روڼ مستقبل ته سياست وائى نو بيا خو سردار يوسفزے د ټولو نه لوے سياستدان دے ځكه چې د غم درد نه ډک زړۀ لرى۔ خو داسې نۀ ده زمونږ په ماحول كښې سياست دې ته وائى چې په خلۀ يوه وى او په زړۀ بله۔ د سردار يوسفزى او سياست ترمينځه يو اوچت دېوال دے چې ټوپ هم ترې نه شى وهلے۔ ځكه زۀ د دۀ هره خبره د دۀ د زړۀ آواز گڼم او دې داسې صادق گڼم لكه نۀ دۀ خپل قام سره مينه۔

"ستا غمونو سودائى كړم" د سردار يوسفزى د شعرونو دوړومبى

مجموعې نوم دے چې ترون ئې د خپلې مور په نوم کړے دے چا چې دهٔ ته خپله خوږه ژبه پښتو ښودلې ده او پلار ئې هم نهٔ دے هېرکړے چا چې دهٔ له په لاس کښې قلم ورکړے دے خو دهٔ ترون کښې هم هغه څوک بالکل نهٔ دی هېرکړی د چا غمونو چې سودائی کړے دے۔

سردار يوسفزی کتاب د روايتی شاعر په شان د اللہ د حمد نه شروع کړے دے او دوېم د رحمت اللعالمين په نوم دے چې د دهٔ د مور د تربيت يوه بې رويه بې ريا آئينه ده۔ سردار يوسفزی وخت په وخت د قام بچو ته هغه نصيحتونه کړی چې يو پلار ئې خپلو بچو ته کوی دا د دهٔ د شعری صدا يو ځانله جُدا حېثيت دے۔ دنيا داری نهٔ لری او نهٔ ترې د منافقت بوئی راځی۔ د دهٔ د مور سره مينه د دهٔ د هغه نظم نه په ښه توګه څرګنديږی چې مور ته ئې ليکلے دے د دې نظم اختتام په دې دعا کوی۔

دعا کوومه د اللہ نه چې ژوندی اوسې
د هر تکليف نه په امان شې ګرندی اوسې
چې يوسفزے سردار مدام دا ستا په څنګ ګرځم
عمر دې ډېر شه چې تل ستا په دعا رنګ ګرځم

''زما داجی'' د سردار يوسفزی يو بل نظم دے چې د پلار د صفت حق ئې په کښې ادا کړے دے د نظم دوه اخری شعرونه ئې د لوستو قابل دی۔

ستا خدمت او ستا رضا زما مرام دے
ستا نه زار ستا نه قربان زما داجی

www.pukhto.net

خدایه سوال د یوسفزی سردار قبول کړے
د هر غم کړې په امان زما داجی

د وطن آبادی د سردار یوسفزی مرام دے۔ دې چې د وطن په غم غمژن په دې خاوره ورک مئین خفه دلګیر اووینی نو رورته وائی۔

ے اورېدلی دې جوړ نۀ دی
مایوسی لویه ګناه ده
اورېدلی دې جوړ نۀ دی
انسان جوړ دے حادثوله
په ژړا پسې خندا وی
تش غمونه مدام نۀ وی
خوشحالی پسې رادرومی
ذا غمونه به دې هېر شی
هر خزان پسې سپرلے وی
لاړ خزان په تېرېدو شو

بیا ورته د دۀ حېثیت په دې تکو رایادوی۔

ے د ځربې خاورې خاونده
د خوږې ژبې ښښتنه
رڼاګانې راخورې دی
هغه پورې غر ته ګوره
څنګه شین دے د خند انه

www.pukhto.net

بیا ورته بلنه ورکوی

ځه چې دواړه کونجې ورکړو
ځه چې دواړه لوظ وکړو
چې به مینه کړو ترمرګه
چې وطن اباد اباد شی
چې وطن خوشحال خوشحال شی

د وطن په مینه ژوندے سردار یوسفزے سینه کښې یو مینه ناک زړهٔ لری د شاعری د احساساتو او جذباتو نه ډک زړهٔ چې د موسم په مستئ هم پوهه دے او د حسن وجمال په زړهٔ راښکون هم۔ په دهٔ د انسان مينې ژور اثر کړے دے۔ هم دا وجه ده چې دهٔ ته زهٔ د مینې شاعر وائیم۔ یو داسې شاعر چې خپل ملی روایات ئې هم کلک په موټی کښې نیولی دی او د جدید دور په تقاضو هم پوهیږی خو د ځان ځانئ او خود غرضئ په دور کښې نن هم د دهٔ مور او د دهٔ داجی هېر نهٔ دی۔ مور پلار سره دا کلک تړون د دهٔ د دین او دنیا د کامیابئ ثبوت دے او دې په دې زما خوښ دے۔

حکیم عبدالرحمان بېتاب

(3/11/2010)

چیئرمېن پښتو ادبی سوسائټی (رجسټرډ) اسلام اباد

کنټرولر مذهبی امور اې وی ټی چینلز اسلام اباد

www.pukhto.net

# د نن د غمونو سودائی

شاعر په هره زمانه کښې سودائی وی ، د جهان غمونه راټولوی او په خپل سر ئې امباروی۔ کله دا غمونه د ځان وی او کله د جانان، کله د مکان وی او کله د زمان، کله د وطن وی او کله د کلهم جهان، خو یوه زمانه وشوه چې د پښتنو خاوره د غم نه خالی نۀ شوه، څۀ خو د دې خاورې جغرافیه داسې ده چې برصغیر ته څوک هم راځی نو د پښتنو په سیمه راځی او دغه رنګ ئې ورومبی معرکه پښتنو سره راځی او بله دا چې دې دنګو دنګو غرونو او د درو کږو وږو لارو د پښتنو تربیت داسې کړے دے چې خپل سر ئې هم مات کړے دے خو د هرې زمانې زورور ئې هم په خپلو پښو واپس نۀ دے پرېښے او کۀ څوک تللی هم دی نو په ژړا ئې ژړولی دی او پښتون شاعر مدام دا مړانې ستائیلی دی او په خپلو اتلانو ئې ننګ کړے دے۔ خو د بدقسمتی نه دا موجوده حالات د ستائیلو په ځائے د ژړلو دی۔ په تېرو دېرشو څلوېښتو کالو کښې چې د پښتنو په خاوره څو مره وینه توې شوې ده دو مره وینه به د پښتنو ټول

www.pukhto.net

تاریخ کښې هم نۀ وی توې شوې او د دې د پاسه بله بدقسمتی دا ده چې دې ساده پښتون په دې دومره تباهی ژړا هم اونۀ کړه او فکرمند هم نۀ ښکاری نو سردار یوسفزے او د هغۀ په رنګ نور زلمی دې خبرې سودایان کړی دی چې د نن پښتون مړ هم شو او پړ هم، خُوږ هم شو او ګناهګار هم، پردو پرې هم لبې وکړې او خپلو هم۔ د سردار یوسفزی د شعرونو دا ټولګه د دې حالاتو په اړوند لیکلې شوې ده او د نن زمانې ټول شاعران هم دې غمونو سودائی کړی دی۔ نن مونږ ټول په دې یوه ژړا ګډ یُو، ځان ته دعا کوو او د ښمنانو ته ښېرې ۔ خو د بده مرغه په ټول قام کښې چرته هم د امېد د رڼا یو بخرے هم په نظر نۀ راځی او بخری به څۀ په نظر راشی چې

هغوی سرونه ورکوی فکر ته ئې کله پرېږدی
یاسینه ! څنګه به تقدیر د پښتنو جوړوی؟

هر سر دې فکر وړے دے چې دا حال به څنګه بدلیږی او حال چرې هم نۀ بدلیږی چې ترڅو مونږ پخپله حرکت نۀ وی کړے۔ یوه زمانه وه چې زمونږ ټول منورین په دې یوه خبره متفق وو چې تعلیم د دې ټولو مسئلو حل دے تعلیم ډېر شو خو حال نور هم خراب شو۔ خو کۀ فکر وکړے شی نو تعلیمی ادارې ډېرې شوې دی سندونه ډېر شوی دی خو تعلیم کم شوے دے ۔ پوهه نشته او پښتون قام کښې د پوهې ډېر کمے دے ۔ اباسین صیب وائی

www.pukhto.net

زما قام کۀ په قامونو کښې غمے دے
خو د علم پکښې لږ شانې کمے دے

کوم قامونه چې پوهیږی نو هغوی خپل وطنونه داسې جوړ کړی دی چې ډېر قامونه په خپلو بچو تعلیمونه په خپله کوی خو خدمت به د پېرنګیانو کوی۔ د نن زمانې هنر دا دے چې خواری نور کوی او مزې پرې تۀ کوې۔ ډېر تفصیل ته نۀ ځم خو په خپل چم ګاونډ کښې وګورئ چې ستا وررور د طب په مد کښې مهارت ته اورسی نو هغه به خدمت له برطانیې او امریکې ته ځی، کۀ د سائنس په مد کښې وړاندې لاړ شی نو خدمت له به بل خوائې۔ دا ولې؟ د دې جواب ډېر اسان او ساده دے او هغه دا چې د دغه وروڼو خوږندو نه تپوس وکړئ او ډېر ساده تپوس ترې وکړئ چې یه خانه ! چې تۀ په دې پښتنه خاوره پېدا یې، د دې خاورې بچے یې، د دې وطن زلمے یې، تۀ چې د کار شوے نو پردو له ولې لاړے ؟ نو هغه به در له ډېر ساده جواب در کړی چې ،

تۀ ما له دا امن، انسانیت او ایمانداری معاشره راکړه نو زۀ به راشم۔

نو تاسو په ایمانداری اووائئ۔

دا امن چا لوټ کړے دے؟

دا انسانیت زمونږ نه چا ایستے دے؟ او

دا بې ایمانه څوک دی؟

او چر ته چې دا درې ټکی نۀ وی هلته چنچړې هم خپل مابنامونه نۀ کوی۔

www.pukhto.net

هيله ده چې چاپېره به وګورو او خپله برخه ځان به سم کړو نو جهان سم دے۔

د سردار يوسفزی د شعرونو دا ټولګه يو خوا د قام په وينو ژاړی او بل خوا هغه معاشرتی او معاشی مصيبتونو سودائی کړې ده چې په يويشتمه صدی کښې هم پښتون په اور کښې سيزی او د ارام ساه ترې نۀ شی اخستے۔ يقين دے چې په مينه به ئې ولولئ او د شعری هنر په ځائے به مقصديت ته پام وکړئ۔ په دې هيله چې

زما د بابا کور او ورور به خدائے کا يو صلاح شی
د وينو په دې ډنډ کښې به يو نوې ګل پېدا شی

(د نظم بابا اجمل خټک

په ډېره مينه

ياسين يوسفزے

تولاندی (دېرشم اکتوبر ۲۰۱۰ء)

www.pukhto.net

# سرداریوسفزے یو ژوندے فنکار

ګرانه ستانه زارمې شه د ژوند خوارۀ

دا خو په ځان ستا د مینې پور لرو

ورک په وطنونو دی بلها ځوانان

څو د شمار دانې په کلی کور لرو

چرې یوسفزی سرداره یو نۀ شو

ویر تاریخ کښې دغه یو پېغور لرو

دا دی د سردار یوسفزی د وړومبی شعری مجموعې څخه څو شعرونه چې په خپل وجود کښې یو زور لری، یو جوش لری ، جذبه لری او حوصله هم لری۔ ښاغلے سردار یوسفزے د صوابی د ننګیالو پښتنو د تپه رځړ د یو مشهور او معروف کلی تولاندی اوسېدونکے دے۔ ښاغلے د محترم امیر محمد کاکا کره د عیسوی کال ۱۹۷٤ء د دوېمې میاشتې په پنځمه نېټه زېږېدلے دے۔ ترلسمه سبق وئیلو نه پس څنګه چې زمونږ د پښتنو یو روایت جوړ شوے دے چې

ے څوک په رضا د ملکه نۀ ځی

یا ډېر غریب شی یا د یار د غمه ځینه

www.pukhto.net

زما د دې خبرې نه دې پښتانهٔ ځوانان غلط مطلب نهٔ اخلي او د تعليم سره دې خپله رشته او تړون نهٔ پرې کوي۔ د خپل ملک و ملت بچو ته سردار یوسفزے د خپل بچی "د یحیٰ سردار په نوم" نظم کښې وائی

ځه بچيه د مکتب په لور روان شه
قلم واخله او سفر درته اسان شه
کور کوڅه او چم ګاونډ کښې مو تیارهٔ ده
بل مشال اوسه الله دې نګهبان شه
چاپېرچل ته مو د علم ضرورت دے
ډېر سبق اووایه ډېر لوستے انسان شه
په جنجال د مسلکونو اخته نهٔ شې
هر بشر په الله ګران دے په تا ګران شه

سردار یوسفزے لکه د نورو باشعوره زلمیانو په دې پوهه دے چې زمونږ د قام او ملت د ترقی راز په تعلیم او تربیت کښې پټ دے ولې بل خوا د تیارو پېروکار مکتبونه ورانوی او د قام بچی د وحشت او دهشت د بلاګانو ښکار کوی۔ د پښتنو په لړکښې به حضرت باچاخانؒ وئیل چې زما ډېر ښهٔ قام دے خو ولې پېسې ته د ټینګې نهٔ دے دا وینا د پښتنو په لړ کښې د یو پېرنګی منور هم ده او زمونږ د نن شاعر سردار یوسفزے هم خپل قام ته د شعر په ژبه وائی او ډېر ښهٔ وائی باید چې مونږ ترې عبرت واخلو او د خپل ځان اصلاح وکړو۔

په ډېرو شتوکښې چې مورږ نهٔ شوے میم زر ما جانانه
د پولی پرق ته ناست مخلوق خو په پېسه خرڅېږی

www.pukhto.net

د څربو غوښو شوروا غوړه وی متل دروغ شو
ما پرې ګمان کولے نۀ شو نن هغه خرڅیږی

حقه خبره هم دغه ده لکه چې سردار یوسفزی د شعر په ژبه وئیلې ده۔ په نن حالاتو کښې په چا هم یقین پاتې نۀ دے۔ سردار یوسفزے خپله وظیفه ډېره په صدق او ایمانداری ترسره کوی او چې کله هم ورسره د فرصت څو لحظې وی نو هغه په فضول قسم محفلونو کښې نۀ ضائع کوی۔ یا به په لیک لوست کښې بوخت وی یا به د خیبر پښتونخوا په بېلا بېلو علاقو کښې د جوړ شوی ادبی ثقافتی محفلونو کښې د ګډون د پاره په سفر وی۔ لا اوس خو ورته مونږ د پښتو ادبی سوسائټی (رجسټرډ) اسلام اباد ډپټی سېکرټری جنرل ذمه واری هم په غاړه کړې دی او لګیادے ډېر په نره ئې سر ته رسوی هغه په دې هرڅۀ پوهه دے۔

د سردار یوسفزی د ژوند محبوبه د هغۀ قام دے، اولس دے، انسان دے، انسانیت دے۔ هغۀ یو خوا د فکر و فن په وسیله د قام څخه د غلطو او ناروا رسم و رواج نوغې ویستو هڅې کوی نو بل خوا د طبقاتی نظام په ضد د قسما قسم ظلم وجبر په ضد قلم راپورته کوی۔ سردار یوسفزے د غټې حوصلې خاوند دے او د حالاتو په دې تورتم کښې د امېد د ډېوو بلولو او وړولو په چل ښۀ پوهیږی

در په دیکې ژوندون مې زېرے د سحر راکوی
زۀ نا امېده ترې په اوږد انتظار نۀ یم
پښې شوې پولې په مزلونو د منزل په تکل
د همت غر یم ږېږه نیولو ته تیار نۀ یم

www.pukhto.net

چې سر تیټے کوی هر در ته سر لوړی په خاطر
د زړۀ په غوړېو واوره زۀ هغه خود دار نۀ یم

سردار یوسفزے یو ژوندے شاعر دے هغه د ژوند په راز او رموز پوهه دے د هغۀ دا فلسفیانه اشعار زما د دې خبرې دلالت کوی. د ښاغلی سردار یوسفزی په دې وروستي شعری مجموعه کښې غزلونه هم شته. دغه غزلونه کۀ د هغۀ د هم عصر شاعرانو څخه د فکر و فن په حواله په زړۀ پورې نۀ دی نو کم هم ترې نۀ دی. ولې زما په خیال ښاغلے سردار یوسفزے د نظم شاعر دے. د هغۀ په دې مجموعه کښې "ستا غمونو سودائی کړم" "آکوړی هغه نیازبینه" "بنارس کراچی کښې یو خړ پړ ځوان ته" "د قام غمونه" "احتساب" "د فائزه سردار په نوم" "ویښ شه" "کلالی بچی" "د شهید کانسټیبل ریاض الدین په نوم" "زمونږ. گران لالا" "د سپی لکئ" "رښا مۀ وژنئ" "د ښاغلی فلک ناز په نوم" "د پلار خط" "پسرلے" "چې وطن اباد اباد شی" "د کیپټن کرنل شیر شهید په نوم" "زما داجی" "مور ته" "نوی نسل ته نصیحت" دا ټول د ښاغلی سردار یوسفزی هغه شاهکار نظمونه دی چې ما بیابیا لوستے دی اویقین لرم چې تاسو به ئې هم بیا بیا لولئ ولې چې په دې نظمونو کښې ژوند هم شته او فن هم. د دې سره دا خبره یوځل بیا هم په جارکوم چې د هغۀ غزلونه هم د بیا بیا لوستو دی. خلق وائی چې په پښتنو کښې شاعران ډېر دی زۀ دا دعوې سره وایم چې نن سبا د شاعرانو نه زیات فنکاران، هنرمندان یا سندر غاړی دا څلورم نوم ئې نۀ

www.pukhto.net

ليكم بيا دغه خلق خفه كيږي. په دغه هنرمندانو كښې ژمونږ هغه پخواني خلق چې وو هغوى به د شاعرانو ډېر قدر كوۀ او دوى به د هر لوړے او وړوكي شاعر كلام وئيلو ولې د نن فنكاران داسې نۀ كوى. ولې چې په هغو كښې درې ډلې دى. يو هغه پخواني خلق چې هغوى اوس هم د شاعرانو قدر كوى په دې نوو كښې دوه ډلې دى يو هغه چې خپل شوق لېوني كړې دى او دوېم پېسې. ځكه دا دواړه هغه ډلې هغه سندرو ته اوليت وركوى چې هغه ژمونږ كلاسيكل سندر غاړو وئيلے وى دا خلق د هغه سندرغاړو هم استحصال كوى او د نوو شاعرانو هم. دوېم هغه خلق دى چې ژمونږ د نن وخت د مشهورو معروفو شاعرانو وئيلى شوى يا نوى كلامونه وائى. دراصل د دوى مدعا هم شارټ كټ ده. زۀ او زما په خير نور ملګرى غواړى چې دوى دې د سردار يوسفزى په خير د شاعرانو كتابونه په بيعه واخلى هغه دې د زړۀ په مينه ولولى يقين دے چې دوى ته وركښې ډېر څۀ په لاس ورشى هم دا به د دوى د پښتو ژبې عملى خدمت وى.

د څو ورځو نه د ځان سره په جنګ دے
ستا شاعر جانان بس نور د ژوند نه تنګ دے
د بوسې په اخستلو خفه مۀ شې
ياره دا مې د سوچه مينې قلنګ دے

سردار يوسفزے يو مينه ناك انسان دے. د هغۀ په غنم رنګه څهره تل د خندا او مسكيتوب يو نرے څادر راخور وى په قد و قامت دنګ لوړ او

www.pukhto.net

په جوته کښې ارواښاد محمد اقبال اقبال چې مونږ به ورته اقبال بابو وئیلو هم د هغهٔ په څیر واسکټ په غاړه ولې اقبال بابو چې په دغه عمر کښې یو پے مخې څوان وهٔ نو ډک برېتونه او ږیره به ئې خرائېله البته سردار یوسفزے په مخ نری نری ږیره او نری نری برېتونه لری۔ یوه ورځ په مشاعره کښې ما نظامت کولو نهٔ پوهېږم چې ماولې سردار خان یوسفزے اووئیل هغهٔ یک دم رانبغ شو وئیل ئې افکار صبب زما نوم سردار یوسفزے دے سردار خان نه! زهٔ د هغهٔ په دې عمل ډېر خوشحاله شوم او په دغه موقعه مې ملګرو ته اووئیل چې یو وار زمونږ یو ملګرے د خیبر پښتونخوا یو کلی ته تلے وهٔ هلته د یو ملګری د کور ور ئې اوډبولو د دننه نه اواز راغے چې څوک یې بهر نه ورته زمونږ ملګری اووئیل فلانے کور شته؟ د دننه نه د ملګری مور اووئیل کهٔ دا خان دې ورسره وئیلے وے نو خلهٔ به دې ماته شوې وه؟

د علم و دانش او فکر و فن د خلقو تعلق د مینې سره وی، ښکلا او وفا سره وی د دې ټکو په ضد په انسانی ټولنه کښې بعض، کینه او حسد دے۔ د علم ودانش، فکر و فن د خلقو په زړونو کښې چې د پورته ذکر شوی تورو په ځائے دا دوېم نمبر ټکی وی نو هغوی دې په خپل ایمان وویریږی۔ شکر دے چې زمونږ سردار یوسفزے د دې دوېمې ډلې نهٔ دے۔ ځکه خو ارواښاد اقبال بابو له په لاس ورغے او د هغهٔ په ګور نور شه(ډ)راته ئې اووئیل چې افکار د مارګلې په لمن کښې ډېر یواځې دے تهٔ د هغهٔ سره اووینه دا د اقبال بابو خپله مینه وه یقیناً زما د مینه والو په څیر

www.pukhto.net

بدخواهان هم شته ولې خوشحال بابا وائی

بدرگه که محبت راسره نه وي
یک تنها به په خونخوارو لارو تلل څوک

زهٔ هیله مند یم چې پښتانهٔ لوستونکي به د ښاغلی سردار یوسفزی دا وړومبی شعری مجموعه په پښتنه مینه په بیعه واخلی۔ هم د زړهٔ په مینه به ئې ولولی۔ یقیناً کهٔ د سردار یوسفزی د مینې جواب پښتنو مینه والو په پښتنه مینه ورکړو نو د هغهٔ تخلیقی جوهر به نورې غزونې وکړی او په راتلونکی وخت کښې به خپل قام ته د نظم او نثر په ښه کښې گڼ شمېر ډالی ورپېرزو کړی۔

لرم خواهش چې هرا نسان دې خدائې خوشحاله لری
زما خوارهٔ خوارهٔ یاران دې خدائې خوشحاله لری
زما د ژوند لار کهٔ ازغنه وی نو زغم به وکړم
زما نیازبین او په ما گران دې خدائې خوشحاله لری
د نړۍ هر یو قام ښهٔ مور او ښهٔ خوشحاله غواړم
په تېره تېره نر افغان دې خدائې خوشحاله لری
د یوسفزی سردار په خلهٔ باندې بس دا دعا ده
دغه اوومه خلهٔ مزدوران دې خدائې خوشحاله لری

اقبال حسین افکار

سکرټری جنرل پښتو ادبی سوسائټی رجسټرډ اسلام اباد

**ذوالحجه ۱۵۔ ۱۴۳۱ هـ بمطابق ۲۱ نومبر ۲۰۱۰ء**

www.pukhto.net

# ژور نظره شاعر

Pukhto.Net

د دنیا هر مخلص، حساس، باشعوره او باضمیره انسان چې چرته هم وی نوهغه به دخپلې تږلنې د ښو ستائنه، د بدو غندنه کوی او د ښو او بدو دغه ستائنې او غندنې د اظهار د پاره به ارومرو څۀ نا څۀ لار لټوی او خپلوی۔

ښاغلے سردار یوسفزے هم د خلوص، احساس، شعور او ژوندی ضمیر څښتن دے۔ د ښو او بدو، د ګناهونو او ثوابونو، د علم او جهالت ،غیرت او بې غیرتۍ په تمیز ښۀ پوهیږی۔ هغه د ښو ستائنه او د بدو غندنه په جار کول غواړی او د دغې ستائنې او غندنې د پاره ئې خپل ځان له د اظهار د تړولونه غوره، موثره او لطیفه لاره شاعری غوره کړې ده او په شاعری کښې ئې ځان له د خپلو موضوعاتو سره سمه د نظم لاره خپله کړې ده۔

www.pukhto.net

ښاغلے سردار یوسفزے په ټولنه کښې ظلم، جبر، جهالت ، بې حسی او په تېره تېره د انسانانو، انسانو سره غېر انسانی او غېر مساوی سلوک نۀ لیدے شی او نۀ زغمے شی۔ دغه وجه ده چې هغه د ماشومانو مشقت، د خواری کښو مسئلې او د پرېوتې او زپلې طبقې کشالې د خپلو نظمونو موضوعات ګرځولی دی۔ سردار یوسفزی د شاعری په بېلا بېلو اصنافو طبع ازمائی کړې ده۔ غزل هم ښۀ لیکی خو په بنیادی توګه د نظم شاعر دے۔ په نظم کښې ئې د روایت او جدیدیت دواړه نخښې لیدې شی۔ کۀ چرې مونږه سردار یوسفزی ته د هغۀ د شاعری په رڼا کښې وګورو نوهغه د یوې مضبوطې او سپېڅلې عقیدې خاوند، یوکلک او ساده باده مسلمان ښکاری۔ یو داسې مسلمان چې په پښتو او پښتنو دومره مئین دے چې په دې مینه کښې ترې خپل ځان هم هېر وی خوکۀ چرته په پښتنو کښې کم کوز خصلت اووینی نو ښۀ په جار ئې غندنه کوی په دې حقله د هغۀ ''پېغله'' او ''آ ګوډی هغه نیازبینه'' نظمونه د لوستلو وړ دی هغه په خصوصی توګه پښتانۀ او په عمومی توګه د دې نړی هر وګړے خوشحاله او سوکاله لیدل غواړی۔

لرم خواهش چې هر انسان دې خدائې خوشحاله لری
زما خواږۀ یاران دې خدائې خوشحاله لری
د نړی هر یو قام ښۀ موړ او ښۀ خوشحاله غواړم
په په تېره تېره نر افغان دې خدائې خوشحاله لری

ښاغلے سردار یوسفزے د خپلو بچو سره د نړی هر بچے باکرداره،

www.pukhto.net

با اخلاقه او د علم او هنر په کالو ښائسته ليدل غواړی۔ هغه ګلالی ماشومان د خځلو په ډېرانونو د کباړيانو په شکل کښې نهٔ شی ليدے۔ د هغهٔ مرام دے چې بايد د بچو په ترخ کښې دې د پالشو د بکس په ځائے د کتابونو بسته وی۔ په دې لړکښې د هغهٔ نظمونه "ګلالی بچی" او "رڼامهٔ وژنئ" د لوستلو او ستائنې جوګه دی۔ سردار يوسفزے کهٔ په خپلو بچو "فائزه سردار" او "يحيٰ سردار" هم نظمونه ليکی نو د نظمونو په ذغه آئينه کښې ورته د ټولو پښتنو بچی ښکاری۔ د خپلو بچوسره سره د کلهمې پښتونخوا بچو ته لاس په دعا وی۔کله چې د هغهٔ حساس او ژور نظر په وروستو پاتې شازلمو پرېوځی نو هغه د "پلار خط" او "زمونږ ځوانان" غوندې نظمونه ليکلو باندې مجبوره کيږی۔ د سردار يوسفزی د شاعرۍ يو بل مثبت اړخ دا هم دے چې هغه په ماشومانو او شازلمو نهٔ يوازې زهيريږی بلکې هغوی له حوصله هم ورکوی او روښانه سباؤن ورته هم ښائی۔ زهٔ د ښاغلی سردار يوسفزی د هنر په فنی اړخونو ډېرې خبرې نهٔ کول غواړم ځکه چې يو خو دا چې دا د استاذانو شاعرانو کار دے او زهٔ خو پخپله د پښتوادب ادنیٰ چنړے يم او ځان مې د "مامهٔ شمېره درګڼه يم" په مصداق په زور د پښتنتو شاعرانو په صف کښې ګڼه کړے دے۔ دا خو د سردار يوسفزی خپله مينه ده چې هغه په خپله وړومبۍ مجموعه کښې زما نوم او زما ليک ځايول غواړی او بله دا چې کهٔ د سردار يوسفزی د شاعرۍ د فنی لوازماتو په ځائے د هغهٔ د شاعرۍ نيت، پېغام، مقصد او د دغې شاعرۍ په شا د مينې او

www.pukhto.net

خلوص جذبې ته وکتے شی نو خوند او اثر به ئې دوه دونه شی۔ د سردار یوسفزی په ادبی او تنقیدی غونډو کښې ګډون، تر لرې لرې مشاعرو له ځان رسول، استاذانو شاعرانو ادیبانو سره مینه او ناسته پاسته د هغهٔ د شاعری د روڼ مستقبل زېرے دے۔ هغه چې په کومه لاره او کوم چال روان دے کهٔ په دغه لاره او دغه رفتار ئې یُون جاری اوساتلو نو لرې نهٔ ده چې سردار یوسفزے ځان له د پښتو نظم د نمائنده شاعرانو په قطار کښې ځائے جوړولو کښې بریالے شی۔ زهٔ ستاسو او د ښاغلی د شاعری تر دامینځه دېوال نهٔ جوړېدل غواړم په دې دعا درنه اجازه غواړم چې الله تعالٰی دې د سردار یوسفزی د قلم توان سېوا کړی چې د مظلومانو، ګلالوماشومانو او بې وسه او بې وزله اولس آواز اوچتوی او د اختیار خاوندانو ته ئې رسوی۔ امین

عبداللطیف سیماب ایډوکېټ

پېښور

لسم نومبر ۲۰۱۰ء

www.pukhto.net

# سردارالشعراء

پښتو ادب کښې هغه لیکوال کوم چې د "ادب برائے ادب" په ځائے د ژوند مختلف اړخونه د خپل لیک محور جوړوی، سردار یوسفزے هم په هغو کښې شمار دے۔ اردو ادب کښې علامه اقبال او پښتو ادب کښې اجمل خټک بابا نوې کهول ته د بېدارۍ سبق ورکړے دے، سردار یوسفزے هم د دغه قافلې ملګرے دے۔ د دوی شاعری د نوی نسل د سپین سباؤن زېرے دے ځکه خو ورته ښاغلے عبدالجبارحامد صېب سردارالشعراء وائی او ښاغلے اکبر سیال په برملا وائی چې سردار یوسفزے د پښتو ادب حبیب جالب دے۔ زما خوش قسمتی دا ده چې مونږ د یوې علاقې یُو نوما ته دا خبره ښکاره ده چې سردار یوسفزے نۀ صرف ښۀ لیکوال دے بلکې ډېر ښۀ انسان او ډېر مېلمه پال هم دے او غم ښادی له هرځائے ته او په هرحال کښې ځان رسوی۔ د لوے قد په شان ورله خدائې زړۀ هم لوے ورکړے دے زما او زما د ټولو ملګرو خیال دے چې سردار یوسفزے یو ډېر نېک او ایماندار انسان دے اود حد نه زیات حساس دے۔ د بل درد او غم هم د هغۀ پشان محسوسوی هم دې جذبې سردار یوسفزے شاعر کړے دے او چې کله شاعری جبراً نه بلکې د جذباتو او احساساتو مجموعه شی نو هم هغه شاعری زړۀ کښې ځائے پېدا کوی۔ د سردار یوسفزی د ټولونه لوے صفت د هغۀ ټولو لیکوالانو سره ښۀ تعلقات دی چې د نن سبا اکثریت لیکوال د دې صفت نه محرومه دی۔ په یو وخت کښې سردار یوسفزے د کبارړ

www.pukhto.net

ماشوم، د بې روزګاره زلمی او د بې وسه پښغلې هم ترجمان دے او د نالیدلی عشق هم. هغه کۀ د پښور پرېس کلب په ګېټ کښې هېډ کانسټېبل رياض الدين شهيد ته پېرزوئنې وړاندې کوی نو د کېپټن کرنل شېر شهيد (نشانِ حېدر) عظمت ته هم سلام کوی او وائی.

د رڅړو یوسفزیه نر پښتونه
د نبیﷺ په خوا کښې اوسه ښۀ مقام دے

مولانا ابوالکلام آزاد وئیلی دی چې "د هندوستان موسیقی په انسان داسې اثر وکړی چې ډېره اووهی او خیالی دنیا کښې ورک شی او د افغانیانو او عربو موسیقی به تا ډېرې وهلو ته نۀ پرېږدی" زما په خیال د دې وجه شاعری ده، تصوراتی شاعری انسان تصوراتو ته بوځی او بامقصده شاعری د قام د بېداری شاعری، د اولس دسوکالی شاعری، د انسان مړې شوې جذبې بیا راژوندی کوی هم دا کېفیت د سردار یوسفزی د کلام د اورېدو نه پس طاری شی ولې چې دوی د بېداری او اجتماعی شعور پرچار کوی. زړۀ خو مې غواړی چې ډېر څۀ اولیکم خو د خوشحال بابا دا شعر سردار یوسفزی ته ډالی کوم چې زما د جذباتو ترجمانی به وکړی.

چې دستار تړی هزار دی
د دستار سړی په شمار دی

محمدعابدخان

مرکزی صدرنړیواله پښتوادبی تړلنه اسلام اباد

15 / 9 / 2010

www.pukhto.net

# زما خبرې

د عام وګړی په مخکښې کۀ ښه یا بده چاره وشی نو دې پرې د خوشحالی یاخفګان څرګندونه وکړی او بس خبره تېره شی او هېره شی خو کۀ دغه پېښه د شاعر په وړاندې وشی نو دې د دغه ښو او بدو چارو ستائنه او غندنه د شعر په ژبه کوی ـ د الله شکر ګذار یم چې دغه ستائینې او غندنې زۀ هم د شعر په ژبه کوم چې د "ستا غمونو سودائی کړم" په شکل کښې ستاسو د وړاندې دی او خواهش لرم چې زما لیک دې زما د قام په ښېګړه راشی۔

زۀ د قدرمنو روح الله محمدزو، حسرت بونېری، عبدالحمید زاهد او اکبر سیال ډېره مننه کوم چې د کتاب د چاپ کولو په لړ کښې ئې ګټورې مشورې راکړې۔ د ګران سلیم ناشاد مننه کوم چې په ډېر محنت ئې زما کتاب کمپوز کړو۔ د ښاغلی مهر اندېش ډېره مننه کوم چې پروف ریډنګ ئې د زړۀ په مینه وکړو۔ د قدرمنو عبدالرحمٰن بېتاب، اباسین یوسفزی، ډاکټر یاسین یوسفزی، اقبال حسېن افکار، عبداللطیف سیماب او محمدعابدخان مننه کوم چې زما په کتاب ئې زړۀ پورې لیکونه وکړل۔ د خپل ماما قدرمن مرادعلی (لانډهی کراچی) مننه چې د کتاب په چاپولو کښې ئې ماسره مالی مرسته وکړه او زما بوج ئې سپک کړو۔ زۀ خوشحاله یم چې ما ځان لنډه تنګ کړو خو مورنی ادب ته مې دا کتاب ډالی کړو۔

په تاسو مئین

سردار یوسفزے

دسمبر ۲۰۱۰ء اسلام آباد

www.pukhto.net

# حمد

لویه خدایه ستا ادنیٰ غرندې انسان یم
په دې زمکه ستا کارونو ته حېران یم

بادشاهان دې کړل ګدا ، ګدا بادشاه کړے
په صفت د یکتائې دې ثناخوان یم

ابراهیمؑ چې درنه سوال دې د قدرت کړو
لاجواب شو زهٔ خبر په دې پرسان یم

طلبګاره چې موسیٰؑ دې د جلوې شو
په سجده شو او وئیل ئې زهٔ ناتوان یم

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

هم دې خضرؑ د سورلۍ سره وفات کړو
بيا ژوندے دې کړو خبر په دې بيان يم

جنګ د بدر کښې نبیﷺ چې په سجده شو
تا وئيل چې شه بې فکره زۀ رحمٰن يم

فضل ستا څۀ سره سم نۀ دے غفور يې
يوسفزے سردار عاصي په دا جهان يم

☆☆☆

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

## د رحمة العالمين په نوم

تهٔ په تيرو کښې بل مشال شوې حسن داره نبیﷺ
زما سرداره نبیﷺ درنه قربان شم

د جهالت تورې تيرې وې
ويرې په هر لورى خورې وې
د ظلم دنګې منارې وې
ختمې تيرې شوې په راتلو دې تاجداره نبیﷺ
زما سرداره نبیﷺ درنه قربان شم

لوږه ژوندى به بښخيدلې
کونډې مظلومې وسيدلې
خوارانو سختې به زغملې
دغه بې لار دې کړل روان په نيغه لاره نبیﷺ
زما سرداره نبیﷺ درنه قربان شم

www.pukhto.net

تـهٔ وې صـادق او هـم آمـیـن
راوړے تـا ښـائـسـتـه آئـیـن
نشـتـه دے بـل پـه دې زمـیـن
د خـپـل امـت د رحـم کـرم طـلـبـګـاره نبیﷺ
زمـا سـرداره نبیﷺ درنـه قـربـان شـم

سفرِ طـائـف چې مې یـادیږی
وجـود مـې غـنې کـیـږی
اوښـکې د سـتـرګـو مې بـهـیږی
پـه وینـو سُـور وې خـو دعـا دې کـړه بـیـسـیـاره نبیﷺ
زمـا سـرداره نبیﷺ درنـه قـربـان شـم

چې دې رایـاد کـړمـه غـزواة
پـه مـدیـنـه کـښـې مـواخـات
یـا داسـې نـور مـشـکـل حـالات
څـهٔ د کـمـال دې فـیـصـلې وکـړې نـامـداره نبیﷺ
زمـا سـرداره نبیﷺ درنـه قـربـان شـم

Pukhto.Net
www.pukhto.net

صدیقؓ ، عمرؓ دي وو یاران
عثمانؓ ، علیؓ مردِ میدان
خوارۀ نمسی دي حسنیانؓ
د فاطمېؓ خوږه بابا د زړۀ قراره نبیﷺ
زما سرداره نبیﷺ درنه قربان شم

موږ بختور په کُل جهان یُو
په زمکه غوره انسانان یُو
شکر دے ستا چې امتیان یُو
بخشش راوړے د اُمت دي له غفاره نبیﷺ
زما سرداره نبیﷺ درنه قربان شم

ما یوسفزی سردار شعرونه
پیش کړل د مینې سوغاتونه
کووم اکثر داسې سوالونه
ځان ته مې وغواړه د کُل جهان غم خواره نبیﷺ
زما سرداره نبیﷺ درنه قربان شم

☆☆☆

www.pukhto.net

# نوی نسل ته نصیحت

نوی نسل د مسلمه خدائے دې مل شه
په تیرو کښې دې د علم مشال بل شه

طریقې ځان کښې پیدا د محمدؐ کړه
صداقت کښې د صدیقؓ پښانې تل شه

عدالت کښې د عمرؓ غوندې عادل یه
سخاوت کښې د عثمانؓ په رنګ اتل شه

په مرحب باندې علیؓ غوندې حمله کړه
دښمنان درنه مغلوب په هر یو ځل شه

www.pukhto.net

شهادت کښې نقل وکړه د حسینؓ نه
د تیتوالی نه دې مخکښې دا سر بیل شه

د حمزهؓ ژوندون ته ګوره ښهٔ سبق دے
د نبیﷺ په پتنګانو کښې اول شه

غیر مسلم کهٔ دې هر څو مره په عذاب کړی
د بلالؓ غوندې په ګرمو شګو جل شه

د معاذؓ معوذؓ جذبه ځان کښې پېدا کړه
ابوجهل دې مردار دا ستا په شل شه

شه اویسؓ چې ئې غاښونه ځان له مات کړل
د رسولﷺ په عشق کښې ته هم دا سې تل شه

یوسفزی سردار چې کوم صفات بیان کړل
په دې واړه صفتونو مکمل شه

☆☆☆

www.pukhto.net

# زما مور

عمر دې ډېر شه چې مدام دا ستا په څنګ کړ ځم
په هر ډګر چې مورې ستا په دعا رنګ کړ ځم

د مينې ډک وزر دې تل په ما خوارهٔ وی مورې
ستاد قدم خاورې دې تل زما رانجهٔ وی مورې

کله چې ځان مې تنهائی کښې ځان ته فکر کوی
ځان ته مې ځان ستاد بې لوټې مينې ذکر کوی

لوګے شم ستا د مينې څنګه پاکه ساکه مينه
لرې بې کچه بې حرصه مينه ناکه مينه

www.pukhto.net

په هره مینه کښې ضرور به څۀ جفا راځی
ستا د کاملې مینې درنګ په درنګ وفا راځی

ځان ته د لوړے وئیلو نن کۀ دعویدار یمه زۀ
تاته بچړے یمه بیا څۀ وشو کۀ پلار یمه زۀ

په ما کۀ یو پوتړے خفګان راځی ژړا کوې تۀ
کۀ مړاوې زۀ دې په نظر شم انګولا کوې تۀ

د مینې ډک ستا ژړغونے آواز یاد دے زما
ځکه خو زړۀ دا ستا د پاره په فریاد دے زما

دعا کوومه د الله نه چې ژوندۍ اوسې
د هر تکلیف نه په امان شې ګړندۍ اوسې

چې یوسفزے سردار مدام دا ستا په ځنګ کړم
عمر دې ډیر شه چې تل ستا په دعا رنګ کړم

☆☆☆

www.pukhto.net

# زما داجی

يو د غر هومره انسان زما داجی
ځکه ما باندې ډېر ګران زما داجی

خلق وائی زړهٔ يې شنې ګټې نه سخت دے
ما د پاره موم پښان زما داجی

زما روڼ سحر له منډې ئې وهلې
هم په زول هم په باران زما داجی

کهٔ ناروغه شمه راشه کهٔ ئې ګورې
لوند په اوښکو کړې ګرېوان زما داجی

www.pukhto.net

د حالاتو هره ژرنده باندې دل دے
ځکه دے مردِ مېدان زما داجی

په ژوندون کښې داسې وخت په ما راغۀ شه
رانه شی چې په خفګان زما داجی

ستا خدمت او ستا رضا زما مرام دے
ستا نه زار ستا نه قربان زما داجی

خدايه سوال د يوسفزی سردار قبول کړې
د هر غم کړې په امان زما داجی

☆☆☆

www.pukhto.net

# کیپټن کرنل شیر خان شهید

(نشان حیدر)

کرنل شیره ! ستا عظمت ته مې سلام دے
شروع کړے ستا په نوم مې دا کلام دے

په سنګر کښې د کارګل چې دې څۀ وکړل
سیوا کړے دې عزت زمونږ د قام دے

د دښمن په کور دننه لکه شیر شوې
سر په چغو شول په ویر ئې در و بام دے

د دوی واړه سنګرونه دې لت پت کړل
چارې واړه د زمرو کړه شیر دې نام دے

www.pukhto.net

د مړانې ستا قیصې کومې بیان کړم
ستا نرتوب باندې قائل دښمن تمام دے

تل ترتله به یادیږی چې شهید شی
څوک چې مړهٔ شو په بستر هغه گمنام دے

کهٔ دې سره ډولۍ نصیب نهٔ شوه نوخیر دے
هلته حورو د غلمانو انتظام دے

د دنیا واړه جامونوله فنا شته
تا چې نوش د شهادت کړو دغه جام دے

د رحٔرو یوسفزیه نر پښتونه !
د نبیﷺ په خوا کښې اوسه ښهٔ مقام دے

یوسفزی سردار راوړی څو شعرونه
ولاړ قبر ته دې ښهٔ په احترام دے

☆☆☆

www.pukhto.net

# چې وطن اباد اشي

د وطن په غم غمژنه
په دې خاوره ورک مئینه
ولې دومره سودائی شوے
ولې ناست خفه دلگیر يې
اوربدلے دې جوړ نۀ دی
مایوسی لویه گناه ده
اوربدلے دې جوړ نۀ دی
انسان جوړ دے حادثوله
په زړا پسې خندا وی
تش غمونه مدام نۀ وی
خوشحالی پسې رادرومی
دا غمونه به دې هېر شی
دا دردونه به دې هېر شی

www.pukhto.net

هر خزان پسې سپرلے وی
لاړ خزان په تېرېدو شو
پاخه پاخه لېونيه
متوره شاه زلميه
د نرانو نر بچيه
بختوره شاه زلميه
د څربې خاورې خاونده
د خوږې ژبې څښتنه
د تيرو مئينان ورک شو
رڼاګانې راخورې دی
هغه پورې غرته ګوره
څنګه شين دے د خندا نه
په لمن کښې ئې ولاړ دے
يو شپونکے درته ښکاره شو ؟
ورته غوږ شه لږ ئې واوره
يکه زار د مينې وائی

www.pukhto.net

چاپیر چل سُرور سُرور دے
څو مره ښکلے مازیګر دے
څه چې دواړه کونجې ورکړو
څه چې دواړه لوظ وکړو
چې به مینه کړو تر مرګه
چې وطن اباد اباد شي
چې وطن خوشحال خوشحال شي

☆☆☆

## قطعه

ستا د لاس نخښې مې سینې پورې نیولې داسې
لکه چې مور خپلې سینې پورې بچې نیسي
په مینه څۀ پوهیږی ستا د چم بې مینې خلق
زۀ ستا د مینې لیونے یم ما په دې نیسي

☆☆☆

www.pukhto.net

O

جانانه ستا نازونه اداګانې مې يادېږى
هم ستا خمارې سترګې بلاګانې مې يادېږى

ستا څنګ کښې چې تېرشوى خوشګواروختونه يادکړم
سرې شونډې تورې زلفې ځانګوګانې مې يادېږى

چې يادې ستا ګيلې کړم څۀ د مينې تهمتونه
زما مينه کښې ستا، څۀ سزاګانې مې يادېږى

هم هغه وخت زمونږه چې د مينې سر اوچت شو
د مينې ټيټې سترګې خنداګانې مې يادېږى

د شنو فصلونو مينځ کښې چې به تاله پرې درتلمه
د دنګو پولو ګياګانې مې يادېږى

www.pukhto.net

ورو مبے ګُذار مې کله چې بېلتون په ځيګر وکړو
جانانه ستا په ډرک ژړاګانې مې يادېږی

ژوندون څنګ په تلوارئې يوسفزی سرداره تېر شو
پرون څومره تنکی وه چيندروګانې مې يادېږی

☆☆☆

## قطعه

کلے اولس مې ټول خبر دے چې دا څۀ قيصه ده
زۀ له په پته د ښو لاندې صنم لټووم

په چاپېرچل کښې د هرچا په لاس کښې مالګه وينم
څومره ساده يم چې زخمونو ته مرهم لټووم

☆☆☆

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

# پسرلے

په مفهوم د ژوند خبر شه
چې وطن کښې پسرلے شی

د تیرو نه رابهر شه
چې وطن کښې پسرلے شی

غم ښادی دواړه وروڼه خور دی
مایوسی لویه ګناه ده

هله پاڅه هله نر شه
چې وطن کښې پسرلے شی

Pukhto.Net
www.pukhto.net

تیرې لارې فنا کیږی
د تیرو مئین ورکیږی

راشه مل د سپین سحر شه
چې وطن ګښې پسرلے شی

غرونه شنهٔ دی د خندا نه
ګودرونه اباديږی

یکه زار د غرهٔ د سر شه
چې وطن کښې پسرلے شی

د څربې خاورې خاونده
د خوږې ژبې څښتنه

خوږ پشان شیر و شکر شه
چې وطن کښې پسرلے شی

Pukhto.Net
www.pukhto.net

چې شر نه خوښوي چاله
خیر چې غواړي هر انسان له

ګرانه داسې یو بشر شه
چې وطن کښې پسرلے شي

لږ همت او حرکت غواړي
یوه چاره ګرانه نۀ ده

په الوت شه بره ورشه
چې وطن کښې پسرلے شي

چې مدام په وینو پائي
د خوارانو مزدورانو

تول عمري ترې مرور شه
چې وطن کښې پسرلے شي

☆☆☆

www.pukhto.net

# د پلار خط

په جولو واخله سلامونه په ماګرانه بچے
د خپل وطن نه مسافره قدردانه بچے

په کلي کور کښې خیریت دے هیڅ فکرونه مه کړه
د زړهٔ نه لرې وسوسې کړه هیڅ غمونه مهٔ کړه

مسافري کښې زړهٔ تنګ نهٔ کړے ګورے خیال کوه
استقامت درته نصیب شه رب نه سوال کوه

زمونږ نبی ﷺ هم لرے لرے سفرونه کړی
په معاشی توګه ئې دا رنګ تکلیفونه کړی

سحر د وخته پاڅېدل خو مجبوری ده ستا
په نصیبه چې یوه داسې مزدوری ده ستا

خو ګورے پام کوه چې مونځ درنه قضا نهٔ شی
بچیه دا خبره هیره دې زما نهٔ شی

www.pukhto.net

بیا په ډیوټۍ کښې دې هم ښه ایمانداری کوه ته
چې په ذمه دې شی کوم کارنو ښه خواری کوه ته

چرته چېکر او یا فورمېن سره چې جنګ ونۀ کړے
وارۀ سره په اتفاق اوسه ترې ځنګ ونۀ کړے

هلته هندوان، سیکان هم ډېر مسلمانان اوسئ
مذهب جدا جدا رشته کښې د انسان اوسئ

د زړګی سره اوس به حال درته د کور اووایم
د ورونړو، خوېندو څو خبرې دې د مور اووایم

مور خو دې مرګی حال پرته ده دوائی نشته دے
دارو خو کیږی په پېسو یوه پائی نشته دے

ورونړه دې تلی دی پنجاب ته مزدوری کوی
خدائے خبر کوم کوم ټهېکدار ته به زاری کوی

ستا د وېزې قرض لا خلاص نۀ دے سوچونه کوم
حالات مو ورځ په ورځ غورځیږی دا غمونه کوم

www.pukhto.net

د اوړو یو تروړې ته تړوله ورځ قطار کښې اوسم
راته مِلاو نهٔ شی زهٔ هسې انتظار کښې اوسم

داسې خبرېږمه چې خلقو ته ډالۍ رالېږے
چاته موبائل ، چاته سپری، چاته ګھړی رالېږے

ستا د وېزې قرض د کوم ځائے نه ادا کړم ګله
ډېر شوم خفه نو دا ګیله ځکه لتا کړم ګله

په څومره منډو تړړو تاله مې وېزه کړې ده
څومره کړولے ووم ایجنټ تا اندازه کړې ده

جینې دې لویه ده بس نور ورته کتے نهٔ شم
بغیر نمسی نه دې د مور جولۍ لیدے نهٔ شم

وادهٔ نه مخکښې یو کمره هم جوړول غواړی
خښتې خو ګرانې دی بلاکونه به اېستل غواړی

پېسې عبث لګول پرېږده ځان ته ځان اووایه
چې څهٔ لالچ نهٔ لری هغو ته دوستان اووایه

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

زمونږه څوک دی دلته هر څۀ په پېسو کیږی
چې پېسه نۀ وی بیا پرېکون هم د رشتو کیږی

هغه د بر کلی ګلے خو په عمره تلے وۀ
عمره ئې وکړه خو د کار په اراده تلے وۀ

ځان ته ئې ځان اووې راغلے اوس مزې کوی
مزې د هغه کور بوډا ځوان او بچې کوی

تۀ هم په ډکه منګول راشه لږ مې سیال کړه بچے
په غم لړلے ژوند کښې ما چرته خوشحال کړه بچے

د یوسفزی سردار شعرونه مې بیان کړل درته
پکښې نیمګړی ارمانونه مې بیان کړل درته

☆☆☆

www.pukhto.net

## رڼا مهٔ وژنئ

د مستقبل د روڼ سحر زېريه !!
بسته په ترخ چې مدرسې ته درومې
د زړهٔ مې وځي بې اختياره دُعا
د زړهٔ مې وځي بې اختياره بنېرې
په مور او پلار دې افرين شه گله
گرانه گراني کښې دې مکتب ته لېږي
چې تهٔ سبق اووايې لوے سړے شې
دا دې د خان او د جهان فائده ده
هيله به پوهه شې د ژوند په خوږو
ځکه چې تهٔ به شې يو لوستے انسان
او لوستې خلق په هر چا گران وي

www.pukhto.net

خو چې عمل ورسره مل وی ګله
څوک چې په خپل علم عمل کوی
دنیا کښې لاړ شی تر کماله پورې
انسانیت ته هم فائده رسوی
زمکې نه پاڅی تر اسمانه لاړ شی
خو دلته شته دے د الوت دښمنان
دلته کښې شته دے د رڼا دښمنان
دوی ستا مکتب ورانوی تا مړ کوی
په چاپېرچل کښې مو رڼا نۀ زغمی
د جهالت د تیرو راج غواړی
قلم دې لاسو کښې زغملے نۀ شی
د ځان نه مخکښې دې لیدلے نۀ شی
دا منصوبه د دغه خلقو نۀ ده
څوک چې د بل په لمسه ورور مړ کوی

www.pukhto.net

څوک چې زمونږ د تن وجود حصې دی
څوک چې تېروتی د اسلام په نامه
دا د دنیا د مشرخان لوبه ده
یو څو برېښې هم په ځنګ کښې لری
تنکی بچیه چې دا هر څه کورم
د زړه مې وځی بې اختیاره بنېرې
خدایه د دوی دغه روانه لوبه
واپس په دوی باندې ور وچورلوې
چې خلق دوی نه عبرتونه واخلی
بې دریغه مینه دې مکتب سره ده
څومره درنه بسته په شا راړوې
اے کلالیه ! د همت نه ډکه
ورځه بې ویرې مدرسې ته درومه
د زمری لار څوک بندولې نۀ شی
د نمر شغلې ایسارولې نۀ شی

www.pukhto.net

پہ کُل جہان باندې رڼا راولہ

شپہ مو اوږدہ شولہ سبا راولہ

د مستقبل د روڼ سحر زیریہ

بستہ پہ ترخ چې مدرسې تہ دِرومې

د زړۀ مې وځي بې اختیارہ دُعا

د زړۀ مې وځي بې اختیارہ ښیرې

☆☆☆

## قطعہ

بابا ځکہ وی بیمار چې د شپیتو شو

جنګ جګړہ کښې لا ھغہ شان ہنر دے

مشر ځوے مې شوارلسم کښې سپکند راغلو

اوس لہ خیرہ باعزتہ کلہندر دے

☆☆☆

www.pukhto.net

# د ښاغلی فلک ناز په نوم

سوچه سوچه پښتون او خوږ انسان دے فلک ناز
د علم بل مشال مردِ میدان دے فلک ناز

په سیمه د هنګو کښې د بنګشو په درشل کښې
روښان لری فکرونه قدردان دے فلک ناز

سوُرسپین دے په جوثه او لوړ قامت لکه چینار
نۀ غټ دے نۀ مانده شیرین زبان دے فلک ناز

چې پېښ شی چرته، هلته ټول محفل په ځان مئین کړی
زماځۀ چې د هر مئین جانان دے فلک ناز

www.pukhto.net

ډېران باندې ننګ وکړی ارهتونه پکښې بائیلی
خفه د پښتون قام په دې نقصان دے فلک ناز

جماعت کښې دی چاودنې په حجره کښې دی چاودنې
رنګیری مکتبونه په خفګان دے فلک ناز

په خېر سره ئې بوځې او په خېر ئې بیا راستون کړې
نن شپه د "ایوری کوسټ" په لور روان دے فلک ناز

په ژبه او ادب باندې مئین دے ښه شاعر دے
دا ځکه په سردار یوسفزی ګران دے فلک ناز

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net

# د سپی لکی

ګېر چاپېره سرې لمبې دی
په منونو بارود وچوی
په سوونو خلق مړهٔ شی
په سوونو ډیوې مړې شی
په سوونو ځلی جوړ شی
په هر لور وینې بهیږی
په هر لور د غوښو بوئی دے
غوښې الوځی هوا کښې
لوې وارهٔ په ژړا سر دی
خلک سترے جنازو کړل
دلته څوک هم چې انسان وی
خوب ئې وتښتی له سترګو
خو په تا دې افرین وی
چې دا هر څهٔ وینې ګورې
لکه زړهٔ نه چې محروم یې
لرې شنه ګته سینه کښې

www.pukhto.net

نۀ په ځان باندې خفه شوے
نۀ په بل باندې دلګير شوے
غلا غلطي نه صبر نۀ شوے
بعض ، حسد او کينې دي
د غيبت نه صبر نۀ شوے
د سحر نه تر ماښامه
فسادونو پسې ګرځې
سوداګر د عصمتونو
عزتونو پسې ګرځې
چې دا هر څۀ در کښې وينم
حق حيران يمه انسانه
تا کښې دومره عقل نشته
چې بدلون درکښې پيدا کړې
خو بدلون به څنګه راشي
چې بنده د سپي لکۍ شي

☆☆☆

www.pukhto.net

# زمونږ ګـــران لالا

(دا نظم د رضوان لالا د مرګ نه څو ورځې وړاندې ليکلے شوے دے خدائې بخښلے رضوان لالا په پښتو او پښتنو د خپل ځان نه هم زيات مئين وۀ او خپل ټول ژوند ئې مورنی ادب ته وقف کړے وۀ په ګور ئې نور شه)

لکه د خپلې نامې خوږ ښائسته انسان لالا
د مـــورنۍ ادب خـــادم دغـــه رضوان لالا

دا مـــينه وال د مـــينه والو مـــحفـــلونو سرے
دا د درونـد سيوری درونـد خاونـد د کمالونو سرے
دا د سُدم د ننګ شـــمـــله د عـــزتونو سرے
د پښتو نخـــوا نامـــتو شاعـــر د صفتونو سرے

دا د خـــوږو خـــوږو شعـــرونو د مېدان لالا
د مـــورنی ادب خـــادم دغـــه رضوان لالا

www.pukhto.net

دې په خوږو شعرونو هر ځائے خوشحالي راولي
په مړاوې مړاوې محفلونو زندګي راولي
په منفرد ترنم زيړ مخ کښې سُرخي راولي
په غم زپلي زړه عجبه شان مستي راولي

دا د يو لوې ټولګي لالا زمونږه ځان لالا
د مورني ادب خادم دغه رضوان لالا

په عمر د پيري کښې د ادب نامتو سرباز دے
په دنګو دنګو غرونو پروازونه کړي شهباز دے
د زړه تارونه چيړي په غزل کښې ئې څۀ راز دے
د مينې محبت په پوهنتون کښې ستر استاذ دے

په پښتو ژبه ورک مئين زمونږه ګران لالا
د مورني ادب خادم دغه رضوان لالا

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

خدایه مدام دې وي ژوندے چې محفلونه خاندي
دې چې نغمې پورته کوي نو کودرونه خاندي
دغه سپرلے دې تل عمري وي چې ګلونه خاندي
خزانه مۀ را درومه اوس خو چمنونه خاندي

هغه د هرې سیمې خوږ جانان جانان لالا
د مورنی ادب خادم دغه رضوان لالا

لالا په خدائے رسول مئین دے اطاعت پېژني
څۀ ریاکاره عابد نۀ دے عبادت پېژني
په علم پوهه دے د علم لوے طاقت پېژني
لالا د کرکې نه کرکژن دے محبت پېژني

دا په حجره جماعت مئین شیرین زبان لالا
د مورنی ادب خادم دغه رضوان لالا

www.pukhto.net

ادبی غونډې جوړوی دغه روزګار لری
د جان علی(۱) غونډې ملګرے وفادار لری
ورک شه غمونه چې څوک دغه رنګه یار لری
بل د نذیر(۲) غونډې یو کشر هم هوښیار لری

دا په سردار یوسفزی ګران ډیر قدردان لالا
د مورنی ادب خادم دغه رضوان لالا

---

(۱)۔ سیدجان علی باچا ایډوکیټ سرپرست سُدم پښتو ادبی جرګه
(۲)۔ نذیر یوسفزے جنرل سکتر سُدم پښتوادبی جرګه
۷جولائی ۲۰۰۹

☆☆☆

www.pukhto.net

## د شهید هیډ کانسټېبل رياض الدين په نوم

(چاچي په ۲۲ دسمبر ۲۰۰۹ء دنهي په ورځ په پېښور پرېس کلب کښې یوه ځان وژني برید ناکامه کړو)

هغه ګل منخې آ پے مخې آ نیازبین ماشوم
هغه خوږې خبرې خوږ لکه ګبین ماشوم

هغه په مور پلار او په هر چاباندې ګران هلک
هغه د خپلو او پردو ډېر قدردان هلک

هغه په سکول کښې وۀ قابل د استاذانو خوښ وۀ
د سیپارې سبق کښې ښۀ وۀ د قاریانو خوښ وۀ

www.pukhto.net

مـــازيګـرى کـــښې لوبېدهٔ به هلکانو سره
ناسته به ئې کوله په حجره کښې مشرانو سره

هغه په فوج او ملېشاهم په پولس مئين وهٔ
هغه ننګيال د خپلې خاورې په اولس مئين وهٔ

دغـه جـذبه وه د وطـن نامتو سرباز جـوړ شو
په دنګو غـرونو الوتونکے يو شهباز جـوړ شو

دې کـښې ناڅـاپه په وطـن توره بلا راغـلـه
دلتـه د ويـنو تـويـولـو يـو هـوا راغـلـه

ډېرې نيازبينې بې داجى او بې لالا پاتې شوې
بلها ناوياني سرو جوړو کښې په ژړا پاتې شوې

www.pukhto.net

دغه زلمے رياض الدين چې د پولس سپاهی وۀ
په قام مئين د قام ساتونکے د اولس سپاهی وۀ

نن د پرېس کلب په ګېټ ولاړ دغه نامتو سرباز
دننه د ناستو صحافيانو محافظ جانباز

نن ئې پليته اراده د ترهه ګر خاورې کړه
پخپل نرتوب ئې منصوبه د ځناور خاورې کړه

ځان ئې پوټې پوټې کړۀ نر وۀ صحافيان ئې بچ کړل
بچې ئې پرېښول يتيمان خو ډېر پلاران ئې بچ کړل

داسې بلها د رياض وروڼه قربانی ورکوی
دوی د وطن په نوم د خپل وجود ډالی ورکوی

www.pukhto.net

O

بلها عسکر مې ځائے په ځائے په سنگرونو کښې مری
معصوم اولس حجره جماعت او بازارونو کښې مری

کۀ چرې ووژنے تور سرې یا ځوانان مړۀ کړئ
تنکی بچی او یا سپین گیری بوډاګان مړۀ کړئ

نو خدائے د پاره بیا د هر مذهب کتاب وګورئ
دا کتابونه لټ په لټ په هر یو باب وګورئ

چا روا کړی کوم مذهب ته دا د شر کارونه؟
بل ژړول بل قتلول دا د ضرر کارونه

د ژوند معنیٰ دا ده چې قدر د انسان وکړئ
په لاس به څۀ درشی کۀ بل له ډیر تاوان وکړئ

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net

O

ژوند مې د اورې سره غرمه ده مازیګر نشته
ډېرې مودې راسې روژه ده او اختر نشته

د دې دورنګه چاپېرچل نه اخر چرته پټ شم
ستا خمارو سترګو کښې هم هغه اثر نشته

د خوشحالۍ سامان ئې وړے څوک به ګرم بولمه
زما د زړۀ په تاج محل باندې چې ور نشته

اوس مې هم خوښ یې اوس دې هم هجرز غملے نۀ شم
اوس به هم ستا د غاړې هار ومه خو زر نشته

څۀ به احساس د چا بربنډ د ولوړې تندې وکړی
جامه رېښمینه لری دلته کښې نهر نشته

www.pukhto.net

دلته کښې کړکه په کندی کندی او کلو خوره
دلته خو يو بشر د مينې نه خبر نشته

دا خو به وخت ثابته وی بلکې ثابته ئې کړه
ستا په مئينو کښې زما غوندې بشر نشته

مخ نيوې څنګه د زرګونو نېزه بازو کوې
درې سوه ديارلس (۳۱۳) سربازانو چې لښکر نشته

چې مې اقرار د مينې نۀ کړی د اغيار په وړاندې
د يوسفزی سردار په داسې يار باور نشته

☆☆☆

www.pukhto.net

O

نفاق له وجې در په در شو خو لا نۀ پوهيږی
ښبنې ابلې ښبنې او سرتور سر شو خو لا نۀ پوهيږی

د زورور فصل په رنګ د خپله زوره غورځی
سم لوټې لوټې او کنډر شو خو لا نۀ پوهيږی

د ښۀ او بدتميز به خدائے خبر چې کله کوی
لمبه ئې واړه سمه غـــــر شو خو لا نۀ پوهيږی

په يو خبره اتفاق لری چې يو به نۀ شو
ورته هم ستړے اشنغر شو خو لا نۀ پوهيږی

عقل ئې سر ته راشی هر ځائے چې ټکرې وخوری
وطن نه ورک مې د زړۀ سر شو خولا نۀ پوهيږی

Pukhto.Net
www.pukhto.net

ما وې د ستر نيکهٔ شمله به مدام هسکه ساتی
لوپټې ځی تول برابر شو خو لا نهٔ پوهيږی

د وږې او پړې اخری وخت دے يوسفزی سرداره
ولاړ په داسې يو سنګر شو خو لا نهٔ پوهيږی

☆☆☆

Pukhto.Net پښتو

## قطعه

جانانه مينه به کوو خو سر په سر به درومو
تهٔ شې نختر زهٔ پرېوتی ما ته منظوره نهٔ ده
څه چې کردار په کردار اوپلو چې څوک به ګټی
تهٔ چې د زړو پناه واخلې دا خو تُوره نهٔ ده

☆☆☆

www.pukhto.net

# ګلالی بچی

خاورو خزلو کښې ليدے نۀ شم ګلان بچی
خدايه ! پخپل وطن مېشته کړے دا خواران بچی

زړۀ مې راډک شی يو فرياد مې پۀ دعا بدل شی
چې پۀ نظر شی راته چرته کباړيان بچی

جوړ ارمانونه د ځوانی پرې سوزوی بۀ اول
بټې د دانو چې تودوی غريبانان بچی

يو د لرګی صندوق پۀ ترخ د برش پالش چغې کړی
د هر يو ښار پۀ هر بازار کښې پالشيان بچی

www.pukhto.net

د جُوسو ، پیو تش ډبی بهر راوغورځوئ
ورته ولاړ بوجی په لاس دی د افغان بچی

په مخ د زمکې یو روزګار د دوی نه پاتې نۀ شو
سپیلنی هم لوګی کوی دا ماشومان بچی

هر یو "راعی" به دا جواب په لویه ورځ ورکوی
ولې د کورنه در په در شو زمونږ ګران بچی

بیا به شوګیره ټوله شپه د یوسفزی سردار وی
نن ئې لیدلی دی سوالګری معذوران بچی

☆☆☆

www.pukhto.net

# ستا غمونو سودائی کړم

در په در خاورې په سره ستا غمونو سودائی کړم
رب دې خلاص کړه له دې شره ستا غمونو سودائی کړم

خلق ژوند نه مزې اخلی دا دنیا ورته جنت دے
د هر څۀ نه ناخبره ستا غمونو سودائی کړم

اوس کۀ غېږ کښې لېلاراشی خو خندلې قدرې نۀ شو
کاش د امن مازیګره ستا غمونو سودائی کړم

نفرتونه درکښې ډېر دی هم وحدت نه لرے تښتے
اے کابل او پېښوره ستا غمونو سودائی کړم

د خپل قام خبر دې واخله سمې لوبې پېرې شروع دی
هله پاڅه سر لښکره ستا غمونو سودائی کړم

www.pukhto.net

پېوند واخله چې تيار شم د پخوا پشان الوت ته
يه زما ماته وزره ! ستا غمونو سودائی کړم

د مغل انجام مې لوستے ، مګناهن راته معلوم دے
تۀ د ټولونه وې بره ستا غمونو سودائی کړم

کور د مينې لوټې لوټې پرده دارې بې پردې شوې
ګير په اور کښې لر و بره ستا غمونو سودائی کړم

سرتور سر پټول غواړم خو په څۀ باندې ئې پټ کړم
يه زما لنډه څادره ستا غمونو سودائی کړم

زمکه پرېږده بره خېژه خلق تلې مودې وشوې
په ډوډۍ پسې اوتره ستا غمونو سودائی کړم

www.pukhto.net

ډېرانونه دي دوتر شول شپږ کلن بچيه ګرځه
سرپرست د لوے ټبره ستا غمونو سودائي کړم

يوسفزی سردار ته وايه ستا شعرونه مي يادېږي
پېښنه وکړه د زړه سره ستا غمونو سودائي کړم

☆☆☆

قطعه

وخکے په سوال باندي کږېږي يا د مرګ په موقعه
ظالم اغياره مدام ولي کوږ وخکے غواړي
ما چي غوښتنه د حق وکړله نو او ئي وئيل
زه درنه پوزه پرېکووم ته مېخکے غواړي

☆☆☆

www.pukhto.net

O

ستا ناکړدو په سبب زړۀ زما کباب خو به وی
په لویه ورځ باندې جانانه احتساب خو به وی

په خپله مینه مې باور دے چې بازی به گټم
ستا د ظلمونو ستمونو څۀ حساب خو به وی

دلته هجران کۀ د وصال په مزو پوهه نۀ کړو
طمع لرو چې هلته سرې شونډې شراب خو به وی

ډیر یم مجبوره خیر کۀ کله کله تیروځمه
هلته کښې ستا د رحم کرم ستر درباب خو به وی

Pukhto.Net
www.pukhto.net

غېرتی خاوره باندې بیا کۀ اېمل خان پېدا شی
د بدمرغی نه پکښې بل یو مستجاب خو به وی

ځان ته مې پرېږدۀ پښوره نور څۀ نۀ غواړمه
ډاکټر یاسین(۱) خوږ اباسین(۲) دروېش(۳) سیماب(۴) خو به وی

ما یوسفزے سردار به څنګه په مرګ هېر کړے ګله
کۀ څۀ مې پاتې نشی یو زما کتاب خو به وی

(۱)ډاکټر یاسین اقبال یوسفزے (۲) اباسین یوسفزے (۳) ډاکټر دروېش خان یوسفزے (۴) عبداللطیف سیماب

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net

# ویښ شه

بس کړه اوچت شه له بستره ویښ شه
نمر راوړېدلے دے له غره ویښ شه

د اودو برخه کښې کښې وی مدام
خوبونه بس کړه د زړۀ سره ویښ شه

کرونده شوې ده د کرکې درکښې
مینه پېدا کړه لروبره ویښ شه

کاروان د مینې تر منزله بوځه
د مینه والو سر لښکره ویښ شه

ژوندے ترڅو به د بابا په نوم یې
د هر مېدان ستر ناموره ویښ شه

Pukhto.Net
www.pukhto.net

د وخت مرهټ ته احمد شاه بابا شه
د پانی پت د جنګ زړۀ وره ويښ شه

د ملالۍ ټپې نه مخکښې ګورے
دښمن واپس کړه له سنګره ويښ شه

هر غم زپلے افغان تا ته ګوری
د ډاډ ګېرنې پښوره ويښ شه

ګله د علم مشال بل کړه درومه
د ديارو غم کښې اوتره ويښ شه

ما يوسفزی سردار قلم پورته کړو
نغمه ليکمه خوندوره ويښ شه

☆☆☆

www.pukhto.net

# د سُدم اواز

ډکې مو سينې دی د الله او د رسولؐ په عشق
خور د هر يو کلی په کوڅه کوڅه کښې دين دے

مونږ له کۀ څوک لاس راکوی ډکه ترینه غیږه کړو
خوند مې د دوستۍ واخله پښانې د ګبين دے

وګرځه مېړو باندې مې هېر چې درنه ښار کړمه
زېلې د کبل خورې دی سم لکه قالين دے

ډکه د حيا لوپټه هم شمله د ننګ لرم
وينه مې تويې شوې ده پرې ځکه ګل ورين دے

چا ته په رحمت وريږم چرک شمه د چا په سر
اوس به هم لا وائې چې سُدم طرف ته شين دے

ختمې کۀ ترمينځه تربګنی کړی نور به مخکښې شی
وايم يوسفزے سردار چې دا زما يقين دے

☆☆☆

www.pukhto.net

# د فائزه سردار

(او د هغه ټولو بچو په نوم چې پلاران ئې د حلال رزق په لټون کښې د کور کلي نه بهر دي)

مۀ رخصتوه مې بچے داسې د سلګو سره
يې د مسافر بچې عادت شه دې قيصو سره

دا قيصه زما د سترې ژوند او د ارمان ده
دا قيصه زما ، زما د خاورې د هجران ده
دا قيصه زما د ژوند د نفې او نقصان ده
دا قيصه زما څۀ چې د هر غريب انسان ده

خانده بچې خانده کړه رخصت مې خوشحالو سره
مۀ رخصتوه مې بچې داسې د سلګو سره

Pukhto.Net
www.pukhto.net

تانه چې بيلېږمه والله چې په خفګان يم
شته ښائسته ګلونه خو جدا د ګلستان يم
دغه جدائي کښې مدام سر په هائے سوران يم
خپل ښائسته وطن نه لرے زهٔ هم يو انسان يم

څمه دي جنت نه زهٔ د ډېرو تلوسو سره
مهٔ رخصتوه مې بچې داسې د سلګو سره

وايم يوسفزے سردار نرے کښې دروند انسان يم
او مې ژړوهٔ مغل هاغه ايمل خان يم
او مې تښتوهٔ امين هغه دريا خان يم
توره قلم هم لرم هغه خوشحال خان يم

خپل مينځ کښې مونفاق دے نومخ کيږوناکاميو سره
مهٔ رخصتوه مې بچې داسې د سلګو سره

☆☆☆

www.pukhto.net

# احتساب

هسې نه دا ښائسته وطن په سيراليون(۱) بدل شي
خدائې مهٔ که خدائې مهٔ که، کهٔ وشي څهٔ نا اشنا به نهٔ وي
خويونه واړه مو هغوی ته نږدې شوي خو دي
هغه يو ښهٔ ښائسته وطن بحرِقيانوس په غاړه
ښکلا ئې دومره چې ئې خلق ننداري له راځي
هر خوا ځنګلې دي شينکے دے ځنګلي ميوې دي
موسم ئې ګرم خو باران هم چرې وار نهٔ کوي
چې سمندر ته پېښه وکړې نو افسوس به کوې
د مينې ډک دلبر چې ما سره هم دلته ناست وې
دلته په زمکه کښې بلها دي د هيرو درنګونه
د دې ځائے خاورې هم د زرو په قيمت خرڅيدې
خو دلته عدل او انصاف پسې مخلوق ړاندهٔ شول

www.pukhto.net

دلته قانون به په لحظه کښې په پېسه خرڅېدۀ
غټان غټان شول او وارۀ ئې نور په ښکته لاړل
حیا په نوم هم پاتې نۀ شوه دومره مخکښې لاړل
وایه په داسې چاپېرچل کښې عزت څوک پېژنی
نو هغه وشو چې تل کیږی داسې خلقو سره
ملک سره لمبه شوه، غوښې غوښې، وینې وینې ماحول
دستې د امن ورته راغلې د یوڅو ملکونو
خوارۀ وارۀ شول په ټول ملک کښې دا د امن ټولګی
په ګل وطن چې نظر وکړم حال د وئیلو نۀ دے
یوڅو په شمار دی چې وطن ابادول غواړی
ګڼی نو ډېر ئې خو د سره ورانول غواړی
د خدائې د پاره دغه وارو ته منت کومه
خدائې مۀ که دا ښائسته وطن مو د نظره نۀ شی
خدائې مۀ که دا اسلام آباد چرته فری ټاؤن(۲) نۀ شی
ژندہ دِلانِ لاهور سر چرته په ویر نۀ شی

www.pukhto.net

هسې نه جوړ د پېښور نه مې د ینګمه(۳) ښار شی
هسې نه کوئټه شی بدله کوېټو ستی(۴) باندې
جوړه زمونږ د کراچی نه دارُو ټاؤن(۵) نۀ شی
د کشمیر شنې ځنګلې وینو باندې سرې نۀ شی
هسې نه دلته هم د امن دستې راوچلیږی
چې بیا په خپله خاوره مونږ ترینه ډوډی غواړو
یا په منت زارو د دوی نه یو روپی غواړو
د دې نه مخکښې د خپل ځان اصلاح ضرور پکار ده
راځئ چې ځان سره په خپله احتساب وکړو

---

(۱) سیرالیون کښې ۱۹۹۰ء تر ۲۰۰۰ء پورې خانه جنګی وه په ۲۰۰۱ء کښې ورته دنوروګڼو ملکونو سره سره دپاک فوج دامن دسته هم تلې وه۔
(۲) دسیرالیون دارالخلافه (۳) دهغه ځائے مشهور ښار(۴) د ښار نوم
(۵) یو مشهور ستر ښار

☆☆☆

www.pukhto.net

# د قام غمـــونه

درنګ دے کۀ ساعت چوی سر د ګ د سوچونو دے
ژوند نه مې خوارۀ لاړۀ تریخ ستا په غمونو دے

خدائې ته چې هم اودرېږم تل سر په سودا یمه
شونډې مې الله وائی ډوب په غم کښې ستا یمه

لاس کښې چې قرآن واخلم کړمه تلاوت ئې چې
زړۀ باندې راپنډ مې شې لولم کوم سورة ئې چې

ګوری چې داجی راته وائی بچے دا ولې
تل دې غم کښې ډوب وینم سوچ کښې دا د چا تلے

www.pukhto.net

ښکل مې چې بې بې کړی بیا، وائی ځوے رېمن شولو
خدائے خبر پرې څۀ وشو دومره چې غمژن شولو

ټوقې وشتې کولې به ، دۀ خو به خندل مدام
خور به د خندا نه وۀ ، دۀ باندې محفل مدام

ډک د مینې ورورنه مې دا راز معلوموول غواړی
ستا غم لوغړن کړمه دوی ما خوشحالول غواړی

وائی مې دلبر راته خېر نۀ دے څۀ چل خو دے
شک کښې دې اچولې یم چل کښې دې څۀ ول خو دے

سترګې تکې سرې دی ستا ډېر دے جوړ ژړلی دی
بندې دې خبرې کړې شونډې دې ګنډلې دی

چکر مې بچی غواړی کله مازیګر چې شی
ځنګه په چکر لاړ شی غوڅ د چا ځیګر چې شی

www.pukhto.net

دا وائي دوستان راته ، مونږ ته دې خفګان ښايه
څۀ درنه ورک شوی دی ، مونږ ته دې تاوان ښايه

بت هسې ښکارېږمه چارې د دنيا کووم
زغل کښې د دنيا زغلم فکر مدام ستا کووم

درنګ له به غږ پورته شي روغ وۀ لېونے شولو
کومې بلا وخوړۀ دا چې سپېلنے شولو

خپله قامه ستاغم مې زړۀ پورې نيولے دے
دا مې په خسنی کښې بيا بيا راختلے دے

ستا تاريخ مې لوستے دے غټ غټ کجا ګان زغلۍ
تۀ ضامن د ګټې يې تۀ خو پېرنګيان زغلۍ

ژبه دې هم ژبه ده هم پکښې قانون لرې
خدائيګو په نړی کښې تۀ ځلنده پرون لرې

www.pukhto.net

اوس څۀ کړے در وښايم ؟ خه مړه پرده به شم
هر عمل دې وستايم خه مړه پرده به شم

نه دا مې ځوګند دے چې تول پرې خبردار كړمه
غلے مې قلم كۀ شو ياد به ئې غدار كړمه

ځان كښې مړه راوله بيا هغه د پت نخښې
کوم ځائے درنه ورو کې شوې هغه د غيرت نخښې

ګوته خلۀ كښې ونيسى ستا وفا چې لولی څوک
اودرېږى وېښتۀ ئې تول ستا حيا چې لولی څوک

خير ښېګړه نۀ کوې تشې دشمنی کوې
توره زنګ وهلې ستا خوشې تربګنی کوې

حق مدام د ورور وهې دې ته خوشحالېږې تۀ
ګير كۀ څۀ مشكل كښې شى دۀ پورې خندېږې تۀ

www.pukhto.net

سپک دې مشران کړل خپل اوس درکښې عزت نشته
ورک دې کشران کړل تول هیڅ ئې تربیت نشته

لاړې روپۍ دین شولې ځکه نن عزت خرڅې
ځان ته دلالي کوې تهٔ خو نن غیرت خرڅې

مهٔ کوه کاتهٔ خیرن دا دې پښتنه مور ده
سر ورله سرتور نهٔ کړے دا دې ملالۍ خور ده

علم نه چې څنګ کوې تل به داسې خوار ګرځې
حق چې خپل غوښتے نهٔ شې ځکه داسې نار ګرځې

څنګ پښتو کولې شی هېر شو ایمل خان بابا
څنګه ننګ کولې شی هېر شو خوشحال خان بابا

پښتو کښې دې پګړۍ ږدمه دا یو سوال مې ومنه
ډوب خیالي دنیا کښې یم دا یو خیال مې ومنه

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

چارې د پښتو کوه ورک زما سوچونه کړه
وايم يوسفزے سردار لرې مې غمونه کړه

☆☆☆

## قطعه

کۀ جلاد ئې غوڅوی سر، زما ذکر به په جار کړی
ليونتوب هم پکښې ډير دے د ليلانه بنۀ خبر يم

ما وې تا لوظونه مات کړل ليونے زړۀ صبر و مه
هغه شنه شوه د خندانه ويل ئې تانه بنۀ خبر يم

☆☆☆

www.pukhto.net

# بنارس کراچۍ کښې يو خرپړ ځوان ته

د ژوند زغل کښې جوړ کړمې پېښې تاته بېسيار دی
دا چې زيړ راته ښکارېږے جوړ غمونه درامبار دی

څهٔ پيکه پيکه دې رنګ دے جوړ په خپته تهٔ نهر يې
يا پېسه درسره نشته او په زړهٔ پړهر پړهر يې

ستا به هم يوه دنيا وی چې به تهٔ پکښې اوسېږے
د موټر بنګلې ژوندون ته چې نظر کوې پسخېږے

وينه ستا ده ټوله څښلې ستا سپين روبو مشرانو
دروغ کړی ئې خوبونه ستا د ټولو کشرانو

تهٔ په دې طمع اوسېږے چې ستا حق به تاله در کړی
تهٔ په دې طمع روستېږے چې به دوی د ګلو کر کړی

www.pukhto.net

په تا ګل ئې پېرزو نۀ شي درکونکی بس د خار دی
دا چې زیړ راته ښکارېږے جوړ غمونه درامبار دی

ستا نه ډېر وو امیدونه خو زړلے غونډې ځوان یې
چې پوره کړې ارمانونه مدام دې ته خفګان یې

جوړې تۀ د چا په غم کښې په سوچونو کښې ورډوب یې
یا تۀ خپلو زوروليې په فکرونو کښې ورډوب یې

پوهه پوهه شوم زلمیه د وطن نه مسافر یې
خپلې خاورې پسې ژړے چاپېرچل نه هم اوتر یې

تۀ پردېس کښې پاتې کېږے د وطن غمونه ژړے
په ځیګر باندې دې پند دی ابادی مېرې او شاړې

یاران واړه جمع شوی ټول دا ستا په انتظار دی
دا چې زیړ راته ښکارېږے جوړ غمونه درامبار دی

www.pukhto.net

مرغۍ جالوته الوځی ستا په کلی مازیګر دے
خپل مئین درته یادیږی ځکه غوګ دا ستا ځیګر دے

خپل کعبه او جنت تاته دریادیږی زما خیال دے
ستا پښتو هم راتاوکړے د خپل ځان نه ښکلے شال دے

ستا بچی هم ستا په طمع وهی منډې خوشحالیږی
مابنامی کښې خفه ستړے مور نه ګېر چاپېر غونډیږی

وائی مور کله به راشی دا زمونږه بابا جان
دا لا ځنګه مزدوری ده یُو په دې باندې حیران

تۀ ولاړ په بنارس کښې هلته ټول سترګې په لار دی
دا چې زیړ راته ښکاریږے جوړ غمونه درامبار دی

تۀ ولاړ یې جوړ مزدې ته چرته دروم‌ے راته ښایه
دا موسم خو دے د مینې څۀ دې خیال دے راته وایه

www.pukhto.net

نه غلط شوم داسې نۀ ده تۀ ډیوټۍ لره روان یې
تۀ روزی لټوې مِل کښې ځکه دومره سرګردان یې

دلته بدی ښکارے مره دا دے ځائے د خنداګانو
بوټ خړتم ، خفه ولاړ یې تۀ په ښار د رڼا ګانو

د کټو شان درته نشته سر ببر ځیرے ګرېوان یې
یه معصوم لېونی ځوانه ولې دومره په خفګان یې

سترګې وغړوه ویښ شه فیصلې دې د واکدار دی
دا چې زیړ راته ښکارېږے جوړ غمونه درامبار دی

خواری کښ دالله دوست وی مزدوری په هریولورکړه
ویرخوخوندکړی په سرتوره شابه نرشه مخکښې زورکړه

پښې ځادر نه بهر نۀ کړې کنی هر ځائے به شرمېږے
ځان چې نۀ پېژنے داسې در په در به تۀ لوغړېږے

www.pukhto.net

ښار په ښار چې درته ګورم تا به ژاړمه مزدوره
په الله باندې دې سپارم درنه لاړمه مزدوره

یوسفزی سرداره ښکلی، شاه زلمی مې خوارو زار دی
دا چې زیږ راته ښکاریږے جوړ غمونه درامبار دی

کراچی 12-3-2006

☆☆☆

قــــطـــــعـــــه

هسې پښتو پښتو کوو د پښتو کار نۀ کوو
د خپل کلتور مونږه په خپله جنازه اوباسو
څنګه شمله او لوپټه به موږه سر پاتې شی
مغرب زده بازار په خوا چې دروازه اوباسو

☆☆☆

www.pukhto.net

# آ کـــوډۍ هغه نیازبینه

لُور دې خرڅه ښاپېرۍ کړه دا دې څۀ وکړل نادانه
دا خوګډه بیزه نۀ ده چې جدا دې کړه د ځانه

آ ګوډۍ هغه نیازبینه چې بابا بابا کول به یې
چې ښکاره به په کوڅه شوے په ارمان ارمان کتل به یې
تا کۀ لاس به ورته نۀ کړو په سلګو سلګو ژړل به یې
د زړۀ غوښې دې جدا کړې څۀ خبر یې د تاوانه
دا خو ګډه بیزه نۀ ده چې جدا دې کړه د ځانه

آ پښان چې د سپوږمۍ وه چې مدام به ځلېدله
چې به ځان ته دې کړه جُخته په برق برق به خندېدله
چې به کوزه دې دغېږ کړه په ډرک ډرک به ژړېدله
بیا په نیمه ژبه دې وئیل به بابا جانه
دا خو ګډه بیزه نۀ ده چې جدا دې کړه د ځانه

www.pukhto.net

آ تنکی تنکی نازونه آ ماشومې اداګانې
مازیګرکښې به شروع شوې په کوڅوکښې چیندروګانې
شور او زوږ به يې کولو وې ښائسته پرې فضاګانې
د ژوند خوند يې ټول پیکه شو ورته پېښه شوله ګرانه
دا خو ګڼه بیزه نۀ ده چې جدا دې کړه د ځانه

آ چې تل به زغلېدله د کټوی ځمڅې په غم کښې
دا د اوړی په ګرمی کښې هم د ژمی په یخ نم کښې
خفه شوې درنه نۀ وه د غربت په تکـ تورتم کښې
چې توږلې به يې غوژلې چرته نۀ وه پرېشانه
دا خو ګڼه بیزه نۀ ده چې جدا دې کړه د ځانه

آ چې تا ترېنه اخستی د لُور سر باندې زرګونه
لُور له وربه کړی عزت دې ، مۀ ساته دا امېدونه
دا نیازبینه به کوی اوس د غټانو خدمتونه
یوسفزے سردار کرم کرکه په دې چاره باندې ستانه
دا خو ګڼه بیزه نۀ ده چې جدا دې کړه د ځانه

☆☆☆

www.pukhto.net

# زمونږ ځوانان

د دیارو لټون کښې سترې خواران
د ټهیکدار منت زارو وخوړل

څنګه په خوند به د ځوانۍ پوهه شی
زمونږ ځوانان خو مزدورو وخوړل

همزولی خپلو کښې صلاح شی واړه
وائی اټک کښې د پلو ورځې دی
بل پکښې وائی نه کشمیر ته به ځو
موسم ئې یخ دے د وښو ورځې دی
څوک پکښې ووائی چې نه ملګرو
په مانسهره کښې د بټو ورځې دی

www.pukhto.net

بیا شی په دې خبره واړه رضا
چې بس د کور نه د وتو ورځې دی
یوه جوړه ګوتې کښې واخلی سره
غم د روزګار او د پیسو وخوړل

څنګه په خوند به د ځوانی پوهه شی
زمونږ ځوانان خو مزدورو وخوړل

دوی څۀ کشمیر او څۀ اټک ته لاړ شی
څوک کچ کوی بیا د پنډۍ سړکونه
ما ترې پخپله ډک لیدلی وروڼو
د غټو غټو ښاریو چوکونه
څوک مانسهره کښې چې بټۍ ټهیکه کړی
بټۍ کړی ډکې بلوی اورونه

www.pukhto.net

خولې خولې وجود خيرنې جامې
په شوګيرو کښې تېروي وختونه
دا ډک مخونه او سرۀ سپين اننګى
د وخت ګردونو او لوګو وخوړل

څنګه په خوند به د ځوانۍ پوهه شي
زمونږ ځوانان ټو مزدورو وخوړل

څنګه خوشحاله شم چې ورونه زما
در په در واړه سرګردان ګرځي
ذکر د کومې سيمې وکړم درته
دوبۍ سعودي کښې هم افغان ګرځي
سړکونه ګوري د لاهور او پنډۍ
د خېټې غم کښې پرېشان ګرځي
څوک خرڅوي چنې ، دانې او وړې

څوک کباړیان شو په ډېران ګرځی
تنکی بچی مو پالشونه کوی
د وطن وارہ ښاریو وخوړل

څنګه په خوند به د ځوانۍ پوهه شی
ځمونږ ځوانان خو مزدورو وخوړل

څوک په لاهور او پنډۍ نۀ راګرځی
بیا کلے پرېږدی کراچی کښې ګرځی
د سهراب ګوټھ نه شروع واچوی
د ښار په هره ابادۍ کښې ګرځی
چوکیداری په مِل کښې ونیسی یا
لې په لې هره چورنګی کښې ګرځی

Pukhto.Net
www.pukhto.net

ځکه ژړېږمه سردار يوسفزے
دوی به ترکومې په سختئ کښې ګرځی
د بې وسی په ژرنده وغورځېدل
د ژرنده ګړی ناکړدو وخوړل

څنګه په خوند به د ځوانی پوهه شی
زمونږ ځوانان خو مزدورو وخوړل

☆☆☆

## قطعه

څۀ زمونږ خپله ناپوهی ده څۀ ښکاريان مو ډېر دی
په غرېدلو سترګو تل د فرېب جال ته رسو
د ورور وژل هډو څۀ کار نۀ دے څۀ بل څۀ وايه
مونږ پښتانۀ خو په هر څۀ کښې سم کمال ته رسو

☆☆☆

www.pukhto.net

# پېغله

پښتنه پېغله چې خــرخیږی نو ژړا به نۀ کړم
اغیار چې لارې راکښې ویسی انګولا به نۀ کړم

هغه خیبر چې په صافۍ پېغله ئې ننګ کړے وۀ
مغل څلوېښت زره لښکر سره ئې جنګ کړے وۀ

دا ئې ثابته په دنیا کړه چې نران یُو ګورے
په عزت سر ورکوو هغه بهادران یُو ګورے

دا خو خیبر وۀ اوس قیصه به د مېوند وکړم
د زړۀ خبره به نن ډېر درته په خوند وکړم

هغه مېوند چې شازلمو وه حوصله بائیللے
پېغلې ملالې کړل واپس ما دا تاریخ لوستلے

www.pukhto.net

دا د مېوند پېغله په هر لوری سرتوره ده نن
په سيند ورپورې وته خپل کورنه بې کوره ده نن

پښتنه پېغله د ازل نه وه دننه په کور
چرې ئې داغ ليدلے نۀ شو په لمن باندې تور

دا پښتنې پېغلې نن مونږه په اغيار خرڅوو
څو مره ښۀ ښکارو چې مو لوڼه ښار په ښار خرڅوو

وائی دا چا وکړل دا مونږ وکړل پخپله وروڼو
قصور به خپل څنګه ګيله مۀ کړئ د بله وروڼو

مشر غريب وۀ ستا ، خو ډېر وۀ باعزته خانه
غريب خو خدائے کړے ولې چا کړے بې غېرته خانه

هغوی زمونږ نه مونږ هغوی نه سوداګانې اخلو
ګوندل کښې مېښې ساهيوال ښارکښې غواګانې اخلو

www.pukhto.net

دوی چې راپورېوځی نو واخلی حیادارې جونه
رانه لس شل زره کښې بوځی عزت دارې جونه

په حیادارې جونې واوره اوس بیان زما
پېسې ته کله دې ټینګ شوے نر افغان زما

په تا ئې واخستې پېسې او برېت ګونډه ګرځوی
تاریخ ئې ګوره د عـزت دنګه جنډا ګرځوی

پېسې به واخلی ولې تۀ به د اغـیار شې خورې
اوس به تۀ وینځه د ناترسه جاګیردار شې خورې

اوچتې ناستې به بیبیانې وی کـړېږې به تۀ
کـړه خوشامندې په لستوڼو اوس ګـډېږې به تۀ

کـۀ سار مـاښام دې ژړوی نو تۀ به څۀ اووایې
کـۀ دې عـزت نیلامـوی نو تۀ به څۀ اووایې

www.pukhto.net

غلې چې پاتې نۀ شې څۀ خو خامخا اووایه
ډېر افرین دې په بې بې او په بابا اووایه

د مور پلار مینه په لس شل زره رضا دې شوه
بل خوا بدنامه په جهان کښې پښتونخوا دې شوه

د غیرت ډکه خاوره تا پسې ژړا کوی نن
بې ننګی زور شوه ننګیالو لره صدا کوی نن

لوپټه لاړه شمله ښکته شوه نور څۀ پاتې شول
د پت نوژن بوټی خو لاړل اوچ واښۀ پاتې شول

برقعه دې پرېږده نن په لوری د پنجاب چې ځې
اوس شوې ازاده د پردې او د حجاب چې ځې

اوس تۀ بورقعه څۀ کړې سرتوره په بازار ګرځه
د پښتنې نه شوې پټانی اوس په جار ګرځه

www.pukhto.net

د اباسين اوبو د شرم نه اوبۀ اوبۀ شئ
يه غيرتي پښتکو څه بس دے اوس کاږۀ واږۀ شئ

دنګه خيبره تۀ په سر مې لا ولاړ ښکارے
والله چې اوس خو راته لاندې وران ويجاړ ښکارے

يه تاريخ دانه ! بس کړه مونږ احمد شاه نۀ پيژنو
مونږ غزنوی، ميروس، غوری او شيرشاه نۀ پيژنو

مونږ ته قيصې د ايمل خان او دريا خان مۀ کوه
زاړۀ ذکرونه راسره د خوشحال خان مۀ کوه

نه داسې نۀ دي پريږدم خوږه توريالی پښتونه
قيصې د دوی به درياد ومـــه بريالی پښتونه

د دوی عزت ګورې په خاورو کښې خزلې نۀ کړې
د دوی شملې داسې په خاورو کښې لړلې نۀ کړې

www.pukhto.net

ورونو راځئ چې یو جرګه شو یو مرام د پاره
د خپلې خاورې نه د بد چار اختتام د پاره

سرکش پښتونه چرې تا خپله قیصه لوستې ده
ته هغه قام یې چې غلیم درنه پناه غوښتې ده

ته ټول دننه په اسلام یې تاریخ دان وئیلی
دا مې هم لوستی چې رسول درته بطان وئیلی

په پت ښښګړه ښۀ پوره یو توریالے پښتون یې
وفاداری هم ستا صفت دے ننګیالے پښتون یې

درته پسخیبرې هر یو قام داسې کلتور لرے ته
د خدائے د پاره ورک ئې نۀ کړے ښۀ دستو رلرے ته

خرڅون د لوښو خوېندو ونۀ کړے شرمېږے ګورې
د یوسفزی سردار نظر نه نور غورځېږے ګورې

☆☆☆

www.pukhto.net

# امبارکی

د خيبر پښتونخوا لويو او وړو ته
د خيبر پښتونخوا واړه شاه زلمو ته

امبارک شه وايم څۀ ښکلے ساعت دے
دا ساعت د ننګ ناموس او د عزت دے

د مودو ارمان پوره زمونږ د قام شو
په ذمه باندې يو کار وۀ چې تمام شو

نه غلط شوم لا تمام نۀ دے ملګرو
چې مونږله مو مرام نۀ دے ملګرو

www.pukhto.net

اوس به نور ډېر څۀ کول غواړی تیار شئ
نړیوال میدان ګټل غواړی تیار شئ

تش په نوم مو خوشحالی ګورې عبث دی
تش په نوم مو دا سیالی ګورې عبث دی

زبانی جمع تفریق نه وتل غواړی
دا اودۀ وګړی ویښول غواړی

لږ د عقل او شعور په لاره تلل دی
اول ځان او بیا جهان هم پېژندل دی

د نیکونو بهادری منم کمال دے
صرف دې ته کښېناستل زمونږ زوال دے

د هغوی په رنګ همت به کول غواړی
د هغوی په رنګ الوت به کول غواړی

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

د هغوی په رنګ څۀ کول غواړی یارانو
زوړ تاریخ بیا تازه کول غواړی یارانو

ځان ته ځان او وروړ ته وروړ اووایه ګرانه
شابه لرے تهمتونه کړه د ځانه

خپل عمل باندې خېبر پښتونخوا ګل کړه
ازغی ورک کړه رازرغون په هر خوا ګل کړه

هس مننه زما نورو وطن والو
چې خېبر مو راته اووې مینه والو

پښتونخوا سره خېبر چې مې یادیږی
زوړ تاریخ مې په مزغو کښې تازه کیږی

چې شلوېښت زره مغل مې دلته مړۀ کړل
د غرور پټکی د دوی مې ټول کاږۀ کړل

www.pukhto.net

اېمل خان او دريا خان مې دلته بر شو
د مغلو سربازان ښخ په خېبر شو

دی خېبر سره ترلی مې يادونه
مشرانو مې پرې اېښی قدمونه

ځئ چې ټول اولس يو خلۀ شو يو آواز شو
ټول يو موټے شو د مينې ښکلے ساز شو

مودې وشوې خلق تلی دی په بره
مونږ لا يو بل مرۀ کوو په نۀ خبره

يوسفزی سرداره يُون به اوس په فال کړو
چې دا ګل وطن د سيالو سره سيال کړو

☆☆☆

www.pukhto.net

O

چرته جانان چې د جانان سره خبرې کوی
لکه دهقان چې د خپل خان سره خبرې کوی

دا یوارمان به ګورته وړمه چې مې خپله نۀ کړې
مدام مې زړۀ د دې ارمان سره خبرې کوی

بیا د یو نۀ پوره کیدونکی ارمان طمع لرم
په ځانګه ناست چې دوه طوطیان سره خبرې کوی

په چت ولاړه سره غرمه کښې په موبائل باندې
دا لیونۍ جینۍ جانان سره خبرې کوی

ستا په سوچه مینه مالدار هغه سردار یوسفزے
اکثر لګیاوی د خپل ځان سره خبرې کوی

☆☆☆

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

O

د څو ورځو نه دځان سره په جنګ دے
ستا شاعر جانان بس نور د ژوند نه تنګ دے

د بوسې په اخستلو خفه مهٔ شې
یاره دا مې د سوچه مینې قلنګ دے

ګلالی جانانه ستا په رنګه نهٔ دی
هر یو ښکلے د دنیا راته بدرنګ دے

نامه لیک ئې د مئینو په کتاب ده
چې د عشق په جذبه لکه پتنګ دے

یا مزدور دے یا مئین د زمانې دے
دا چې سوے لوغړن شانې ئې رنګ دے

نور څهٔ نهٔ دی ستا د دوه سترګو کمال دے
یوسفزے سردار د وارو نه په څنګ دے

☆☆☆

www.pukhto.net

O

دلته روا ناروا هر څۀ په دولت کیږی
د ژوند په هر مېدان کښې ترقي په غربت کیږی

خدائې دشارک نه هم نزدې دے ولې چايادکړے
سحر مابنام بس د خدايانو عبادت کیږی

نۀ په تقویٰ پرهيز ګاری نۀ په کردار ملګرو !
عجب دستور دے په پېسه دلته عزت کیږی

ورور لا د ورور د وینو تږے دے مورشوے نۀ دے
ځکه خو هر ځائے کښې ئې لوبې په غيرت کیږی

مدام مو پېغلې وسېدلې په کالۀ دننه
اوس مو په سيمه د تورسرو تجارت کیږی

www.pukhto.net

یو خوا دی لوږې تندې تن له هم جامه نۀ مومی
بل خوا شراب کباب بلهادی عېش عشرت کیږی

د یو بچی په شا بسته په بل کبار وینمه
خدایه ترکومې به دا دومره تفاوت کیږی

په هغه خاوره زرغونه د کرکې نشی کېدې
چرته چې مینه محبت په صداقت کیږی

زۀ درته ستړے شوم په چغو تۀ لا نۀ پوهېږے
دا ځنې چارې خو اشنا په اشارت کیږی

زپلی قام نه مې سوچونه او فکرونه ځار شه
د یو بې وسه ځوان نه دومره سخاوت کیږی

پخوا به کېده وه په متو یوسفزی سرداره
اوس خو دا هر څۀ بس د علم په طاقت کیږی

☆☆☆

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

O

جغرافیه او تاریخ وګوره داغدار نهٔ یم
ستا په نزد خدائے خبر چې ولې وفادار نهٔ یم

ټوپک مې جوړه مجبوری ده قلم څنګ اونیسم
څکه تراوسه هوښیارانو کښې لا شمار نهٔ یم

در په دیکې ژوندون مې زېرے د سحر راکوی
زهٔ نااميده ترې په اوږد انتظار نهٔ یم

ښنې شوې پولې په مزلونو د منزل په تکل
د همت غر یم ښنه نیولو ته تیار نهٔ یم

چې سر ټيټې کوی هر در ته سر لوړی په خاطر
د زړهٔ په غوږو واوره زهٔ هغه خوددار نهٔ یم

www.pukhto.net

پرېږدئ چې لُوټ شمه لمبه شمه ایرې ایرې شم
چې خپل مئین سره صلاح په یوه لار نۀ یم

قدم رامخکښې کړه پښپله دلته څوک دی زمونږ
د یو ابی دادا راوړی یُو اغیار نۀ یم

نوم به مې څنګه د مئینو په کتاب کښې لیک شی
چې د منصور غوندې مسکے په سر د دار نۀ یم

د جانان سرې شونډې ستائل راته په سر پاتې دی
لا د خپل قام غمونه ژاړمه اوزګار نۀ یم

د یوسفزی سردار ارمان چې په ارمان پاتې شی
بیا رضامند د خپل ګلشن په دې بهار نۀ یم

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net

O

مونږ هم زړه کښې ستا د مینې اور لرو
ځکه خو په سپینه جامه تور لرو

څوک به مو جارباسی ستا د مینې نه
ترمه جذبه مونږ کښې هم زور لرو

نورې رنګینۍ د دنیا څۀ کوو
ښۀ ښائسته ګلشن ، ګلشن کښې شور لرو

اوس شو د نظره دا ګلشن زمونږ
دنګو چنارونو باندې اور لرو

ګرانه ستانه ځار مې شه د ژوند خوارۀ
دا خو په ځان ستا د مینې پور لرو

Pukhto.Net
www.pukhto.net

ورک په وطنونو دی بلها ځوانان
څو د شمار دانې په کلی کور لرو
چرې یوسفزی سرداره یو نۀ شو
ویړ تاریخ کښې دغه یو پېغور لرو

☆☆☆

Pukhto.Net
پښتو

## قطعه

زۀ ئې د زړۀ نه څۀ خبرووم ما خو ځان ګڼلو
په روڼ تندی او خوږه ژبه باندې تېروتمه

وئیل ئې مینه کښې جفا خو مې فطرت کښې نشته
زۀ ساده ګل په لمده ژبه باندې تېروتمه

☆☆☆

www.pukhto.net

O

تاته کم عقل خر دماغ دا شمله ور ښکاری
د تاریخ پاڼو کښې مې قام هوښیار زړۀ ور ښکاری

چې مینه مینه وی ، کینه او حسد نۀ پیژنی
داسې محفلې او یاران ډیر بختور ښکاری

د خپل ناتوان ذاجی بوډۍ بې بې احساس دے پکښې
پښتون مزدور ځکه په متو طاقتور ښکاری

په هر چا خپل مئین درانۀ دی پکښې شک نۀ کړم
ګرده نړۍ کښې راته ځکه پېښور ښکاری

پېسه خو ورکړه د الله ده د چا خوښه نۀ وی
چې شی زردار لږ ملنسار نو قداور ښکاری

www.pukhto.net

ته تذکرې د یوسفزی سردار د نظم کوې
خدائیګو چې ماته ئې غزل هم خوندور ښکاری

☆☆☆

## قطعه

یو د ناتار سېلاب راځی به چې خبر دې کړمه
لامبو کۀ نۀ وی د چا زده نو بیا اوبۀ به ئې یوسی
کلکه ئې اونیسه ما هم کلکه نیولې وروره
برستن کۀ یو بل ته مو سسته کړه نو غلۀ به ئې یوسی

☆☆☆

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

O

د بارودو دا باران مې ژړوي

د دوزخ په رنګ ګذران مې ژړوي

ستا نامه واخلي او سر د ورور نه پرې کړي

خدايه ! ستا دا مسلمان مې ژړوي

توره شپه ده جم جګړه دے ته ئې مل شې

د تامبوانو ماشومان مې ژړوي

که ئې هر چرته څوک بيا ئې ورپسې ځي

دا علت د نر افغان مې ژړوي

www.pukhto.net

هم مړهٔ کیږو هم پړهٔ کیږو عجب حال دے
په تاوان باندې تاوان مې ژړوی

د ډیلی په تخت به بیا کښینی کهٔ یو شول
دغه فکر دا ارمان مې ژړوی

تر اَما کما ډوډی پسې خوارهٔ دی
د خپل قام دغه ځوانان مې ژړوی

مسافر جانانه اور په وطن بل دے
راشه راشه ستا هجران مې ژړوی

یوسفزی سرداره چم کښې دزردارو
لوڅ لغړ تنکی بچیان مې ژړوی

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net

O

دا جار وتلی به واپس په نیمه شپه راشی
یو ځل کۀ بیا مې تشو لاسو له پېسه راشی

چې خپله وینه هم د مینې تول په زرو کوی
ماله په دغه وخت د لوې خدایه ګیله راشی

ماله په هغه شپه د ډېره غمه خوب نۀ راځی
کله چې مخې له سر توره پښتنه راشی

همت چې بائینلے منزل طرف ته ګام پورته کړه
اخر سبا شی شپه کۀ هر څومره اوږده راشی

په خوشحالۍ دې یوسفزے سردار دیدن ته درشی
خو بس په بیرته چې راځی نو ډېر خفه راشی

☆☆☆

www.pukhto.net

O

د تباهئ سبب مو دا دے چې لمبه کښې ګرځی
زما د قام ځلمی چې داسې په نشه کښې ګرځی

ماته ښکاريږی د سر سپوږے ئې بې وخته تلے
دا ليونی په چغوسر چې هديره کښې ګرځی

حسن چې پټ وی نو مزه ئې يو په لس زياتيږی
د ښاريې پېغلې خبر شوې نو پرده کښې ګرځی

راته رایاد شو د ستی شېرعلی خان☆ شعرونه
مېرمن د تنګ لباس ښکاره "شېوه اډه" کښې ګرځی

خدائے زده د څو مره وروښو خوښندو خصمانه به کوی
دا ګلالے ماشوم چې بنده اشاره کښې ګرځی

www.pukhto.net

مونږ په زردار وطن نېستی وهلی داسې ګرځو
لکه چې تبږے څوک په ډکه مېکده کښې ګرځی

څنګه به مینه شی خوره زمونږ په سیمه باندې
ورور چې د ورور د وینو څښلو اراده کښې ګرځی

اوس یوسفزے سردار ژړا په ګل پسې نۀ کوی
مدام د ژبې او ادب په ګلدره کښې ګرځی

---

☆ کۀ مرګ پرېښودے ستی شېرعلی خانه
دا رځړې به پنجاب شی تۀ به وینې
(ستی شېرعلی خان تولاندی)

☆☆☆

www.pukhto.net

O

چې په زن او هم په زر ایمان بدلیږی
هلته تل به د انصاف میزان بدلیږی

د بدلون بدلون دا چغې یو فریب دے
نظام هغه دے بس مشر خان بدلیږی

په یو حال باندې الله دے دا رښتیا دی
په شهرت او په پیسه انسان بدلیږی

ما ئې روڼ تندے لیدلے وۀ ملګرو
دا تندی هم د موسم پشان بدلیږی

د بابا لونګی ئې خرڅه په اغیار کړه
ګوره څۀ رنګه مې نر افغان بدلیږی

www.pukhto.net

سحر غاړه راکوی مازیګر څنګ کړی
دا زما کۀ د هر چا جانان بدلیږی

یوسفزے سردار ضرور به دا ګیله کړم
په محفل کښې چې د یار چشمان بدلیږی

☆☆☆

Pukhto.Net پښتو

## قطعه

په ډېرو شتو کښې چې موړ نۀ شوے میم زر ما جانانه
د پولې پرق ته ناست مخلوق خو په پېسه خرڅیږی

د څربو غوښو شوروا غوړه وی متل دروغ شو
ما پرې ګمان کولے نۀ شو نن هغه خرڅیږی

☆☆☆

www.pukhto.net

O

دلبره ستا مینه دزړهٔ نه مې وتلې نهٔ ده
پته د خلقو مې ساتلې چا لیدلې نهٔ ده

ستا د سوچونو او فکرونو د زندان قیدی یم
د خپلواکۍ سندرهٔ ما چرې وئیلې نهٔ ده

تاوې مدهوشه به شې دومره به دروازړومه
لامې تراوسه ستا د لاس پیاله څکلې نهٔ ده

بېلتونه خوار شې چې په ښهٔ بد پوهه شوې یمه
ستا په سبب مې ښاده ورځ چرې موندلې نهٔ ده

خلق سینه په سینه خوب کوی پسخېږم ورته
زما ژوندون کښې دغه برخه جوړ لیکلې نهٔ ده

www.pukhto.net

ګاونډ ئې ټول په ما خبر شو چې ولاړ يم ورته
هغه تراوسه لا ډېوډۍ پورې راغلې نۀ ده

دنيا امېد باندې خوړې شی يوسفزی سرداره
د مشرانو نه دې داسې اورېدلې نۀ ده

☆☆☆

## درې شعرونه

کور ئې لوټې لوټې شی ګرېوان ئې هم تارتار شی
خود به داسې کيږی په نفاق چې څوک بيمار شی

دا زخمی زخمی وجود دقام ليدلے نۀ شم خو
وئې ډبوه دغه شان کېدے شی چې بېدارشی

يو عادت مو تل لکه د سپوری راسره ګرځی
ننګ چې خوشحال وکړی نو بهرام ورته غدار شی

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net

O

کور په کور مو ډیوې مړې دی
زمونږ کلی کښې تیرې دی

ګله دلته کښې به څۀ کړے
رنګینې پنګې مېکدې دی

در په در کډې په سر یُو
د وختونو تقاضې دی

ټول وطن مو لوټې لوټې
چم په چم مو هدیرې دی

دا سرکشه سر ټیټ نۀ شو
بدې ورځې مې په دې دی

Pukhto.Net
www.pukhto.net

ای منزله راته وایه
تاته څومره فاصلې دي

بابا مړ شه څو پړمۀ شه
د بچو مو دا جذبې دي

دا د زور سیلۍ چې راغلې
دنګ محل له خطرې دي

یوسفزے سردار خبر کړۀ
لر و بر کښې ستا مصرعې دي

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net

O

پښتو په هر دور کښې ځان ته يو استاذ پرېښے دے
د اردو ژبې په کاره کښې مو فراز پرېښے دے

توره قلم مې ګورې مۀ چهره پښېمانه به شې
دغه سبق راته خوشحال ځوی د شهباز پرېښے دے

دومره ورکوتے ښکار مې نۀ لګی خو دامې واوره
مونږه اکثر ګورے په چتی پسې باز پرېښے دے

په شړنګا شړنګ مې خوا کښې تېره شوه نشه ئې کړمه
د زړۀ په سر ئې راته زخم خلقه واز پرېښے دے

پوښتنه مانه د زيږ رنګ په هر محفل کښې کيږی
لويه سينه کښې مې بس دغه اِيک يو راز پرېښے دے

د يوسفزی سردار په بده ورځ پېرزو شې کله
چرې په سخته کښې محمود هم خپل اياز پرېښے دے؟

☆☆☆

www.pukhto.net

O

خپل خلق کۀ داسې تماشګیر نۀ وي
بیا به مې زړګے داسې دلګیر نه وي

داسې در په در به لُغړېدُو ولې
غېر سره مو خپل کۀ بغل ګیر نه وي

نۀ به وو مغروره مالداران داسې
اے ملګرو مونږ کۀ چمچه ګیر نه وي

دا دنګې ماڼۍ به څنګه جوړې وي
غېبونه د صبب کۀ پېداګیر نه وي

څنګ به تۀ ژړلے یوسفزی سردار
لیک کۀ ورپسې د شعر جاګیر نه وي

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net

# دخدائے بخښلی ظفر اقبال په قبر

یادګیرنه:۔ خدائے بخښلے ظفر اقبال زما د سانډو مشر ځوے وۀ ډېر خنده رویه خوش اخلاقه او تعلیم یافته ځوان وۀ د رسالپور په هائی سکول کښې استاذ وۀ خو افسوس چې د مرګ بلا رانه ډېر زر او بې وخته بیل کړو۔ (سرداریوسفزے)

د هرچا خوښ ځکه داځوان وۀ چې اخلاق ئې ښۀ وو
دا یو خاکسار او ملنسار هم تابعدار زلمے وۀ
په دین مئین وۀ په دنیا کښې ترکماله تلے
دا ځوانی مرګ ظفر اقبال یو ډېر هوښیار زلمے وۀ

☆☆☆

www.pukhto.net

٥

تا چې په سپین جبین خالونه ایښی
دا دې زما په زړۀ داغونه ایښی

دلته د خاورې نه خوشبو رادرومی
دلته جانان مې قدمونه ایښی

ما ته دې پهې او مرهم جانانه
تا چې په زړۀ راله زخمونه ایښی

ګوره رقیب باندې ور اوغوړیده
ځکه په سترګو مې لاسونه ایښی

د یوسفزی سردار غزل رنګین شو
هغې په زلفو کښې ګلونه ایښی

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net

# رنګینی

تهٔ کهٔ هر څو رانه جدا يې د بل چا به نهٔ شې
تهٔ زما وې، زما به يې چرې جدا به نهٔ شې

تهٔ مینه مینه يې د کوکې يو صدا به نهٔ شې
په هر ډګر به سره يو ځائے يو تنها به نهٔ شې

داسې په مینه مینه اوسه چې بدله نهٔ شې
د زړهٔ په تل کښې اوسه ، لرے چې هيڅ کله نهٔ شې

شاعري ته به بې جانانه مکمله نهٔ شې
مدام رنګین اوسه بې رنګه چې غزله نهٔ شې

اوس ښاپيرۍ به راخوره مې په فکرونو کښې وی
اوس د بنګړو د شور اواز مې په غوږونوکښې وی

www.pukhto.net

کهٔ مشغولا ئې راسره د شپې خوبونو کښې وی
زما نامه به هم خوره ئې محفلونو کښې وی

ملګرو شنه شوه د خندا نه او ګویا شوه راته
اوس رنګینی به دې مدام په غزلونو کښې وی

☆☆☆

## دوه شعرونه

د سبا په انتظار مې واورې پرېوځې
چې راياده مې وعده ستا د پرون شی

ګوتې ډکې د ازغو لرم سپرلی کښې
سترګې بيا مې د ګلونو په لټون شی

☆☆☆

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

o

ځان ته نزدې مې کړه راواچوه په جار لاسونه
د لږو خلقو په نصیب وی د دلدار لاسونه

هغه لحظې به په بدل د بادشاهۍ ور نۀ کړم
چې یار اچولی وی په ما ډک د سینګار لاسونه

ولې شرمېږے تل خوړلې ده بې شرمو دنیا
منت مې واوره راته پرېږده په رخسار لاسونه

د پولۍ شوو لاسو رانکړے پېغور سباله
لکه د شنې ګټې وی سخت د مزدور کار لاسونه

مونږ ساده ګان یُو په هر چا باندې شیندو ګلونه
داسې سُوری سُوری کړۀ چا راته په خار لاسونه

www.pukhto.net

لوپټې ژاړم د حیا ځکه چې ومې لیدل
د ملالۍ د لور اوربل کښې د اغیار لاسونه

د یوسفزی په مخکښې خوئی د مغلوال مۀ کوه
هسې نه درشی ستا ګرېوان ته د سردار لاسونه

☆☆☆

ډېرو ناکړدو د ژوند زپلے یم
یم د للمې ګل سوکړې وهلے یم

ولې به د مخ کاسه تشېږی نه
زړۀ باندې پردوخپلو داغلے یم

ځان د بل په غم کښې هېروم مدام
واورئ خلقه زۀ هغه ښاغلے یم

☆☆☆

www.pukhto.net

O

خانان خو بیا سره خانان شی غصه کیږی هسې
د خوشا ټارو پکښې سوېمه چې جنګیږی هسې

چې وی په تله د پښتو پوره شتهٔ من دې نهٔ وی
پښتون پښتو باندې پښتون دے دوکه کیږی هسې

دومره وو کلک چې ګواهی ئې خړ خیبر ورکوی
زړهٔ ستا غمونو دومره وویروهٔ رپیږی هسې

یو ځل چې لاړ شی نو بیا څوک دی پستنه راغلی
نادان زړګی ته سوچ کوومه چې ژړیږی هسې

زړهٔ خو مې یو دے چې مې درکړهٔ پرې څوګندکوومه
دلبره مهٔ منه د چا عالم غږیږی هسې

دننه شمارې کهٔ زخمونه نو په شمار به ئې نهٔ کړې
د خلقو مخکښې یوسفزے سردار خندیږی هسې

☆☆☆

www.pukhto.net

# سندره

زما د لاس نخښې واپس راکړه جانانه
نۀ کووم یاری ، یاری ده ډېره ګرانه

زۀ ستا په مینه کښې رسوا شوم
په چم ګاونډ کښې د خندا شوم
زمونږ په مینه خلق ټول شو بد ګمانه
نۀ کووم یاری ، یاری ده ډېره ګرانه

کوکی به خاورې درله درکړم
اوس به سوړے دې په ځیګر کړم
حالونه وایې په حجرو باندې جانانه
نۀ کووم یاری ، یاری ده ډېره ګرانه

Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

ماته خو ستا کوڅې یادیږی
اوښکې د سترګو مې بهیږی
په زړه به غټه تیګه کېږدمه جانانه
نۀ کووم یاری ، یاری ده ډېره ګرانه

تا په مرونډ کول خوبونه
پوره کول دې ارمانونه
وے ناخبره د رقیب او د هجرانه
نۀ کووم یاری ، یاری ده ډېره ګرانه

د یوسفزی سردار شعرونه
د زخمی زړونو اوازونه
زړۀ پرې ټکور شی لاپرواه شی د جهانه
نۀ کووم یاری ، یاری ده ډېره ګرانه

☆☆☆

www.pukhto.net

# زما حسينه وروره

(بنا غلے حسين الله)

زمـــا حسينه مشره

زمـــا حسينه وروره

تـهٔ يو حسين انسان يې

تـهٔ په وطن مئين يې

تـهٔ په اولـس مئين يې

تـهٔ په پښتو مئين يې

تعليم يافته انسان يې

د روڼ تـــندى څښتننه

واقـعى حسين انسان يې

واقـعى سوچه پښتون يې

د حـيدر خـــان د پاره

د ايمـل خـــان د پاره

د هـــر مئين د پاره

www.pukhto.net

د هر دردمند د پاره
د هر سنګر د پاره
د ټول وطن د پاره
دغه زمونږه حسين
په ګرکه روغ لرې
په ژوند خوشحاله لرې

☆☆☆

www.pukhto.net

O

لرم خواهش چې هر انسان دې خدائے خوشحاله لری
زما خواږۀ خواږۀ یاران دې خدائے خوشحاله لری

زما د ژوند لار کۀ ازغنه وی نو زغم به وکړم
زما نیازبین او په ما ګران دې خدائے خوشحاله لری

د نړۍ هریو قام ښۀ موړ او ښۀ خوشحاله غواړم
په تېره تېره نر افغان دې خدائے خوشحاله لری

چې تور ته تور او سپین ته سپین وائی د شعر په ژبه
ملګرو دغه شاعران دې خدائے خوشحاله لری

د یوسفزی سردار په خلۀ باندې بس دا دعا وی
دغه اوومه خلۀ مزدوران دې خدائے خوشحاله لری

☆☆☆

www.pukhto.net

# د متلونو په رڼا کښې

نۀ پټېزې لال ایرو کښې دا متل دے
کووم کرکه بناوټ او سجاوټ نه

په خلۀ رام رام او تېرۀ چاړۀ په ترخ کښې
ویره راشی د اشنا مسکراهټ نه

په حرکت کښې برکت وی دا مې واوره
ورته ګوره غوائے پرانزه ارټ نه

پردے کټ د نیمې شپې وی خوب پرې مۀ کړه
ملاسته غوره ده په زمکه داسې کټ نه

www.pukhto.net

چې ئې در نۀ وی معلوم په څنګ ترې اوسه
دوستانه کښېږ د دورنګ او تالی څټ نه

د نادان دوست نه دانا دشمن بهتر دے
لرې اوسئ په تعلق کښېږ جاهل جټ نه

زرۀ د مينې په سبب مې داسې شوې
لکه چاؤدې دانه ودانګی د بټ نه

يوسفزی سردار چې شعر ليکلے نۀ وی
خوب ئې نۀ وی بس د دغه تکاوټ نه

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net

## د یحیٰ سردار (اود هر بچی) په نوم

څه بچیه د مکتب په لور روان شه
قلم واخله او سفر درته اسان شه

کور کوڅه او چم ګاونډ کښې مو تیارهٔ ده
بل مشال اوسه الله دې نګهبان شه

چاپیر چل ته مو د علم ضرورت دے
ډیر سبق اووایه ډیر لوستے انسان شه

په جنجال د مسلکونو اخته نهٔ شې
هر بشر په الله ګران دے په تا ګران شه

www.pukhto.net

سباؤن دې روڼ نصیب شه دعاګو یم
بیا پوره زما د زړۀ هر یو ارمان شه

هر بچی ته به هم ستا په رنګ دعا کړم
هر بچے د مشرانو قدردان شه

د سردار یوسفزی دومره قدرې سوال دے
د بچو په زړۀ الهام مې دا بیان شه

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net

O

چې په زرګونو مېله لرې بې له تا تېرېږی
ژوندون مې مۀ پوښته جانانه په ژړا تېرېږی

ستادوصال په قحط سالی کښې چې مې سترګې ورشی
خوب کښې ویرېا شی دیدنونه په خندا تېرېږی

زۀ د روزګار بلها تودې سړې په ځان تېرووم
زما له وجې دې ښې ورځې بس په تا تېرېږی

راته معلوم دے د خپل کور کلی د ظلم دستور
راته الهام وشی چې څۀ مې په اشنا تېرېږی

د سحر باد ته دې خوارۀ وارۀ زلفان اونیسه
زما په خوا کښې به کېدے شی دا هوا تېرېږی

www.pukhto.net

تبږے نظر بحرِقیانوس په غاړه تا لټوی
ګنی ښائسته ښائسته مخونه خو بلها تیرېږی

د سمندر په غاړه ګرځی تول جوړه جوړه دی
د یوسفزی سردار وختونه بې لیلا تیرېږی

☆☆☆

درې شعرونه

خدائې زده چې ولې مو د مینې کور زغملے نهٔ شی
زمونږ په سیمه جنګ جګړې او نفرت غواړی

د نفرتونو په ماحول کښې کر د مینې وکړئ
ملګریو ګرانه نهٔ ده لږ غوندې همت غواړی

کهٔ وایې ودانګه کوهی ته په خندا به دانګی
مشر عزت او کشر لږ غوندې شفقت غواړی

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net

O

دا سرې لمبې چې مې د کلي په چنار راځي
لکه چې بیا څوک نازولے نن د ښار راځي

مونږه ترې لرې لرې شړی ټوپک مار لګیا دی
اوس به زمونږه یو لیډر په دغه لار راځي

د مشرۍ پټکے به هغه چا له ترو په سر
څوک چې په ژوندکښې دخپل خواراولس پکار راځي

دا چې لګیا یم اوبهٔ خور کووم د زړهٔ په وینو
طمعه لرمه په چمن به مې بهار راځي

تهٔ خو د زړهٔ تارونه چېړے وایه اشنا
ستا په خوږو خبرو زړهٔ ته مې قرار راځي

www.pukhto.net

په هغه وخت کښې راته اوشی اندازه د حیا
چې دا نرۍ نرۍ خوله ئې په رخسار راځی

د کراچۍ نه به مزدور لالے وطن ته راوړی
اوس به خوشحال ایکسپریس سټیشن ته د نوښار راځی

اوس به کوڅه په کوڅه کور په کور مشال بلیږی
اوس مکتبونو ته بچی قطار قطار راځی

چې د خوږو خوږو شعرونو شاعران یادیږی
په یوسفزو کښې تولاندی نه به سردار راځی

☆☆☆

Pukhto.Net
www.pukhto.net



جغرافیه او تاریخ وګوره داغدار نۀ یم
ستا په نزد خدای خبر چې ولې وفادار نۀ یم
ټوپك مې جوړه مجبوري ده قلم څنګ او نیسم؟
ځکه تراوسه هوښیارانو کې لاشمار نۀ یم

ښاغلے سردار یوسفزے یو نوموړے ځلمے شاعر دے. او د خپل ښېرازه فکر او سپیځلي هنر په برکت یې په ډېر لږ وخت کې د شعر پۀ مئینو کې پېژند ګلو پیدا کړه، د خپل ځان او خپل جانان نه زیات په خپل قام بې شانه مئین دے. د انساني وګړي دپاره نیکې، پاکې او مینه ناکې جذبې یې یوه بله لویه خوبي ده.
د غزل او نظم دواړو ښۀ ښائسته نمونې به یې تاسو په دې کتاب کې ولولئ. خو سردار یوسفزے په بنیادي توګه د نظم یو خوږ ژبے او جادو بیانه شاعر دے. هیله ده چې د غه خوبي به یې ورځ په ورځ نوره هم شوخېږي او پخېږي.

لرم خواهش چې هر انسان دے خدائې خوشحاله لري
زما خواږۀ خواږۀ یاران دے خدائې خوشحاله لري
د نړۍ هر یو قام ښه موړ او ښۀ خوشحاله غواړم
په تېره تېره نر افغان دے خدائې خوشحاله لري

اباسین یوسفزے
چئیرمین پښتو څانګه
اسلامیه کالج پوهنتون
پېښور

Printed By:
**New Ittefaq Printers**
Sadaf Plaza Mohallah Jangi,
Qissa Khawani Peshawar.
Cell: 0321-9023455